

www.sikaraam.com

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

# تاکي

د

حبیب الله زړه سواند شینواری

(٦)

**شعري مجموعه**

دلیکلو نیټه

۱۳۷۵-۱۳۷۷

1996-1997

www.sikaraam.com

دکتاب نوم: **تنباکې**

ویناوال: زړه سواند شینواری

کمپوزر: یوسفزي کمپیوټر سنټر جلال آباد، افغانستان

دکمپیوټر سمبالوونکی: عبدالحلیم (مهر) یوسفزی

مرستیال کمپوزر: عبدالحبیب (مهر) یوسفزی

دپښتی طرحه: *عبدالحی (صاحبزاده)*

شمیر: (۵۰۰) ټوکه

خپروونکی: دانش کتاب پلورنځی قصه خوانی پېښور

دچاپ کال: ۱۳۷۷ - 1998

# اهدا

افغان، غازي، اتل ملت او
ګران، زخمي وطن او هغو
قدرمنو خواخوږو ته چې زما د
رنځور زړه د زخمونو وینې یې په
خپلو اوښکو پرېمنځلې.

www.sikaraam.com

بسم الله الرحمن الرحیم

چې خالق د ټول عالم او ټول جهـــــــان دی
ګناهګار زړه ګیه! خدای ډیر مهربان دی
"چې جهان یې خدای له عشقه پـــــــیدا کړی"
امتي ښه دی زړه سواند د دې جانـــــــان دی

خوښي نشته د ده زړه ګیه نوره تاکـــــــې
چې غمو در باندې جوړې کړې تاکـــــــې
ګوندې روغ مې دا رنځور زړه شي جانانـــــه!
تا یې وینې کړې په خپلو اوښکو پاکـــــــې

www.sikaraam.com

# سریزه

{۱}

زما د خواږهٔ دوست زړه سواند صاحب تڼاکې مې مخې ته پرتې دي، د ګران هېواد د شل کلن تڼاکې- تڼاکې ژوند کیسې راته کوي، په خوږه ژبه، په شاعرانه ژبه، په پسته ژبه او په مهینه ژبه.

ماته دا شعرونه داسې ښکاره شي لکه په نمرودي اور کښې ابراهیمي ګلونه، لکه د فیلبانانو په بریدونو کښې د توتکیو خوږې چیغې او لکه د انګریزي توپونو په نا تار کښې د ملالې اغیزمنې لندۍ.

شاعري مصوري ده، انځورګري ده، عکاسي ده او د لفظونو سحر ګري او جادوګري. سحرګري او جادوګري مې ځکه ورته ووې چې انځور ګري او عکاسي یوازې د "ظاهر" عکس اخلي او برسېرن عکس اخلي خو د شعر توري هر څه انځوروي شي، پټ او ښکاره، مکنونات او تصورات، د پردې مخ او شا ټول پکښې انځور کېږي، ټول پکښې رانغښتل کېږي او ټول پکښې را وړل کېږي نو ځکه د شعر عکاسي، د شعر انځور ګري ډېره بشپړه، ډېره رنګینه، ډېره مهینه او ډېره حسینه ده.

هو! شاعر د ژبې توري او لفظونه را اخلي، توږي یې، صیقل کوي یې، رونوي یې او بیایې د شعر په رنګین مزي کښې داسې سره

Misbah

پېيي چې هم خلا لري، هم ښکلا لري، هم بقالري او هم دوام.

شاعري د موضوع او شکل يو موزون ترکيب دی، محتوی او بڼه په شعر کښې د رخت دتنستي او بودې او د ګل د رنګ او بوی غوندې او بدون او پيوستون سره لري.

"شعر د ژوند له پاره که شعر د خوند له پاره" دا خبره بې معنی شوی ده بلکه شعر يو خوند دی چې ژوند وړاندې کوي، شعر يو قيمتي لوښی دی چې د ټولنو د ژوند متاع پکښې وړاندې کېږي او د ټولنې عکس او انځور وړاندې کوي يا هغه د جم جام دی چې د ټولنې د ژوند او د کړو وړو ټول فلم پکښې ښکارېږي او ټول ژوند يې پکښې ثبتېږي.

{۲}

د ملتونو په عادی ژوند کښې پېښې رواني وي، د ژبې الفاظ او لغتونه په خولو کښې وي، شعر د خپل تخيل په انبيق کښې دا پېښې او دا لفظونه اچوي، د ټاکلي وخت په تېرېدو سره يې تقطيروي او رونوي خو په غير عادي حالاتو کښې چې د ژوند او لفظونو بدلونونه ګرندي شي د شعر د هنري کولو عمليه وروسته پاتې شي خود وخت په تېرېدو، پسې ورسېږي او د دواړواندول او تناسب برابر شي.

زموږ شل کاله وړاندې غميزه يوه نا څاپي ټکه وه، يوه نا څاپي پېښه وه چې د ګران هېواد په ښکلي پسرلي کښې د ګلونو او خوندونو په وطن نازله شوه، پردو دښمنانو زموږ د خپلو نا دانانو په مرسته زموږ تاريخي ملت دې اورته ور ټېل واهه، لنبې ژبغراندې شوې، تاندې- تاندې غوټۍ او ګلونه پکښې وسوځېدل، هر څه پکښې لنبه- لنبه اوايره- ايره شول او دادي تر اوسه لا دا لنبې ژبغراندې دي او وطن د دې اور په غرغرو کښې سوځېږي.

د هېواد بادرده او با درکه شاعرانو د دې حالاتو عکاسي وکړه، په لومړيو وختونو کښې دا عکاسي بربنډه، شعاري او په ډکه خوله وه خو ورو- ورو د پېښو د ترسيم له پاره سمبولونه جوړشول، کنايې او استعارې ورته وټاکلې شوې، ادبي پيرايې او بڼې ورکړې شوې او د دې زيږو، ترخو، ويروونکو، ويرانوو نکو او دردوونکو حالاتو ادبي، هنري او نرم او مهين تصويرونه وايستل شول او د وخت شعر د حالاتو انځورګر شو او د موضوع او بڼې، محتوی او هنراندول يې وساته او په دې توګه ادب د واقعاتو او پېښو هنري عکاس شو او د زمانو اوږدو ته يې د خپل وخت د نمايندګۍ سند وړاندې کړ.

{۳}

ښاغلی زړه سواند شينواری له همدې شاعرانو نه دی چې د شل کليزې غميزې ټولې پېښې يې په پوره ملي رسالت او په پوره هنري ځواک او قوت انځور کړې او په دې توګه يې د دې پېښو هنري او ادبي تاريخ جوړ کړی دی.

دی د مقاومت له داسې شاعرانو نه دی چې په دې ټوله شل کلنه دوره کښې لاس ترزنی کښېنناست، مقاومت يې وکړ او له درنو او وژونکو پېښو سره مقابله.

دهٔ د هېواد غميزه په پوست اورګ حس کړه، دوحشت د ژبغراند اور لنبې يې پوره شل کاله پر وطن وګرځېدې چې د هېواد ډېرې مادي او معنوي شتمنۍ يې ورسره ونغړلې، تر دې چې د ده پر کور هم روسي وحشي الوتکو شوم سيوری وکړ او له کورنه يې لوټې، اسويلي او زګيروي پورته کړل، همدغسې د اقتدار د لېونيو جګړو بې سره او رونو د ده د خپلو قلمي آثارو په ګډون د دهٔ ټوله معنوي شتمنی او کتابتون ايره- ايره کړل خودی بيا هم اراده له لاسه نه

www.ikitab.in

ورکوي هر څه په غرېدلو سترګو ګوري، هنري تصویرونه یې باسي او ادبي انځورونه:

ډېـــرې اوښکـــې مــې پرې توی کړې خومړنه شو
چــې اخیستـــی دلــونـګــو څـنـګـــل اوړؤ

چــې سندرې یې پـــه ســانــدو کړې بدلــې
دومـــره پـــوه شوم یو یې ســور اوبــل یـــې تورؤ

پــه کــوڅــو کښــې اوس تــوتې- توتې پراته دي
چــې پـــه لېچـــو کښې د کــومــو بنګړو شورؤ

تاسې وګورئ دې دریو بیتونو د دې شل کلنې غمیزې هرارخیزانځور په څنګه خوږه، هنري او عاطفي ژبه وړاندې کړی او دملت پر مادي او معنوي هستی یې د سره او تور دښمن شندې څنګه ادبي کړې او ابدي کړې دي.

د ښاغلي زړه سواند شل کلنه شاعري د واقعیتونو انځوروونکې شاعري ده، دیوه باوجدان او با ضمیره انسان غږ دی، د یوه واقعي او رښتیني افغان چیغه ده او دیوه ویښ او هرڅه لیدونکي پښتون آهونه.

هسې خو عاطفه او احساس د ښاغلي زړه سواند په ضمیر او خمیر کښې اخښلي دې، د ده لیکوالي د همدې عاطفې او احساس زېږنده ده، ماله ده سره اووه دېرش کاله وړاندې هغه وخت و پېژندل چې د پوهنې وزارت په "پوهنه" مجله کښې مهتمم مقرر شوم، دی هغه وخت د عسکري پوهنتون زده کړی ؤ خو ذوق او احساس یې لیکوالی ته مخه ګرځولې وه، دهٔ بهٔ هغه وخت خوږې او د ملي

دردونو انځوروونکې کیسې لیکلې چې په "پوهنه" او نورو خپرونو کښې به راتلې، زما اوده د دوستۍ او مینې تړون له همغه ځایه وشو، په "پوهنه" کښې د ادب په مهین، رنګین او وریښمین مزي سره و تړل شوو او دا مزی نه یوازې دا چې د زمانې تاړا کونوسست نه کړای شو بلکه لایې متین او مرغلین کړ او زما اوزړه سواند زړونه یې لا سره لنډ او نژدې کړل.

ځینې نومونه معکوس راوزي خو د زړه سواند نوم لکه څنګه چې زړه سواند دی همداسې زړه سواند دی، د ده لیکوالي او شاعري له هماغه لومړي سره له زړه سواندی او خوا خوږی ډکه وه او په شل کلنه غمیزه کښې چې ملی دردونه زیات شول ورسره د ده د زړه ټکانونه هم زیات شول او څرنګه چې زړه د غوښې د ی نو دې درنور درنو دردونو د ده زړه هم کاوا که او بېواکه کړ او د زړه ناروغي یې وربېښه کړه:

د ملت د وطـن غـم مې زړه رنځـور کړ
مـجـبـوری نـه دویـم کور زما روغتون شو

د زړه له ناروغی سره د زړه سواند صاحب شاعري نوره هم عاطفي او دردوونکې شوه، ور سره خوږه او تر پخوا زیاته ژوره او هنري. لوی خدای دې ده ته بشپړه روغتیا ورکړي او ګران هېواد دې آرام او دودانی په لور روان کړي چې بیا د ده له شاعری نه دزګېرویو اوساندو پر ځای د وطن د خوښی او ودانی ترانې واورو او د ده د زړه داغونه د هیلو په غوړېدلو ګلونو بدل شي:

تــا خالونه، بنګړي څو ځلې بدل کړل
د زړه ســواند د زړه داغونه نه بدلېږي

ما د "تنباکې" ډېر بيتونه او حتی بشپړ شعرونه په نخښه کړي وو چې د دهٔ پېښو ته دقت او بيا د هغو د انځور هنري قوت پکښې وښيم خو دومره زيات وو چې د نيم کتاب را تکرارول يې غوښتل نو ځکه ترې تېرېږم او په انتخاب کښې انتخاب نه کوم. تاسې خوارهٔ لوستونکي يې په خپله ولولئ باوری يم چې را سره وبه يې منئ چې ښاغلی زړه سواند له خپل سپېڅلي دين، ګران او وران وطن او اتل خو سرګردان ملت سره څومره مينه لری او څنګه يې په غمونو او دردونو کښې دشمعې په شان سوځېږي خو پر خپل هېواد د تيارو وزرې خپرېدو ته نه پرېږدي.

زهٔ دلته له خپلو ټولو انتخابي بيتونونه په يوه بيت بسنه کوم:

د احساس خاوند يـــې اوري ورته ژاړي

زګـيــروي خيـــژي د وطن له هراندامه

دهٔ د وطن د دې هر اندام زګيروي راغبرګ کړي، د خپلو هېوادوالو غوږونو ته يې رسوي، تاريخ ته يې د هنر په ژبه سپاري، سبا ته يې د يوه لوی وير د نخښو په توګه پرېږدي او د انسانيت د ضمير په کتاب کښې يې خوندي ګول غواړي.

نورنو تاسې په خدای سپارم او د تنباکو په خوند او په دقت لوستلو ته مورابولم او زړه سواند صاحب ته يو ځل بيا د لوی خدای له لوی در بارنه بشپړه روغتيا غواړم.

په مينه

حبيب الله رفيع

حيات آباد، پښتونخوا

۱۳۷۷/۸/۱۳

## سور ښامار

ارمـــــانونو ورته بـــوتلم خو ترلې میخـــــانه وه

ساقي سر په زنګون ایښی چپه شـــــوې پیمـــانه وه

د رباب مزي شکیدلي مطرب لیرې تـــرینــه ناست ؤ

نه خوښي وه نه خندا وه نه د ساز څه ســـامــــانه وه

په خزان وهلي بڼ کې د ګل سرې وینې پـــرتـــې وې

نه بـــورا ؤنـــه بلبل ؤ نه د مینې تــــرانـــــــه وه

د چـــا اوښکـــو د چا وینو د وحشت کیسې کولـــې

دا د غم هره کیسه به هـــــر غـــلام ته جـــانانه وه

ورور د ورور ځنې بیزار ؤ د یوه بابا په کـــور کـــې

ځان ځاني وه غولول ووکچه شـــــوې زمـــانـــــه وه

څوبې نکو، څوبې پتو د وطن په سر کـــړې لـــوبې

هوسو ترې هیره کـــړې د نیکـــونـــو افســـانه وه

د ملت په نوم شول پورته د ملت وینې یې توی کړې

دې خر ستړګو ته زده کړې خدایزده چا دغه کانه وه

د یوه محفل یارانو خپل سرونه سره مات کړل

جوړه کړې ورته نورو خونړۍ شان یارانه وه

د طلسم دام په مخکې د فریب دانې پرتې وې

زوړ ښکاري ورته نیولې پاملرنه دزدانه وه

سور ښامار ورپسې راغی د چلوڅو په پرده کې

د وطن په خوږه غیږکې د لعلونو خزانه وه

تا خو ولیدل زړه سوانده پردي کله دې خپل شوي

ددې سرو او تورو دوارو زړه کې یو شان بهانه وه

یادونه: کله چې د تحصیل په پای کې له هند نه کابل ته راغلم

www.sikaraam.com

# غـــم

ددې اغـــــزو لــــه ستـــــم چيـــرته لاړه
ګــــل ســـــره يو ځــــــاى شبنم چيرته لاړه

رنځـــــــــور زړګـــــيــــه د ســـــرو وينو سره
ستـــــا لــــه زخمـــــونــه ملهــــم چيرته لاړه

چــــې يـــويــــــې لاړه بل يــې راغــى پسې
زمـــــونــــــــــز لــــه کـلـي نه غـم چيرتـه لاړه

تـــــرخې سيلـــــى چې ورته مـــــړه کړه ډيوه
بـــــيا نـــــو پتنګ په تـــــورتم چيرتـه لاړه

جــــانـــانــــه دا پــــوښتنه مکـــــــړه لـــه ما
چـــــــې د ليمــــــو نــــه مې نم چيرتـــه لاړه

ته يـــــــې حمــــزه چې د غـــزل کـــړې بابا
اوس دې نـــــــو هغه قلـــــم چيــرتـــه لاړه

دا ســـتا لـــه تـــورو , تـــــوروزلفـــو بيګاه
ګــــــل د غــــاټــول او شــــړشم چيرتــــه لاړه

د انځـــــر ګـــــــل شو ليمه شپه کـــې مينې
شـــــاړې کـــــوڅې نه صنم چيـــرته لاړه

چــــــى پـــــرى ګـلونـه د بڼ بـه ښـکاريدل
هغــــــه ښــــايست په تـــورخم چيرته لاړه

کـــــــه چيـــــرې نـــه وم پيابه وايي اشنا
زړه سواند په ويـــــر او ماتم چيــــــــرته لاړه

د ننګرهار روغتون

www.sikaram.com

# غزل

چې پرمخ زلفې خورې کړې ماښام کېږي
نور بې نه وينې زما ورته پام کېږي

زما زړه او زما مينه يکې بند شي
تورې تمې چې کوڅو کړې نو دام کېږي

نه دې بوی د لونګين راوړي نسيم اوس
نه دې غږ راته اوس کله له بام کېږي

دا خو مينه کوي زړونو باندې لوبې
د محمود زړه د اياز چې غلام کېږي

چې مې سترګې ښکلې نه کاندې ستا سترګې
سود مې کله ستا په تش يو سلام کېږي

دا خو زه په سرو سکروټو پښې ږدمه
چې پښې زما تنهاکې د ګام کېږي

چې پردې وريسې خيلو دې راوستې

بدې چارې په وطـــن او په قـــام کيږي

لاس تر زنـــې ګـــناه ګار ناصح ته ناست يو

څه کانـــې زمونږ په ښکلي اســـلام کيږي

چې د ګـــل او دبلبل ژبـــه يـــې زده وي

د نيکمرغـــه کـــلـــي هغه امام کيږي

چې ساقي ته يې څـــو ګـــلـــې پرې سر مات کړ

اوس په برخه د هغو دغـــه جـــام کيږي

جوړوي تخمې د خـــوار بلبل په زړه کـــې

چې ګوزاره هـــر يـــو ګل په اندام کيږي

دا ارمان به مې په خـــاورو کـــې وي خـاورې

څـــو چـــې بـــيرته زمونږ کلي ارام کيږي

غړېوي په زړه سواند مـــرګ تـــرخه جامونه

څه د ژوند به غـــم لـــړلي انجام کيږي

# وزرونه

مونږه ایښې دي ګامونه په اوږونو
چې د شپې کوو مزلونه په اوږونو
په اغزو او په تیارو باندې مینو
سوزولي دي ګلونه په اوږونو
چې بل کړي ځورودي تورو لاسونو
دلته وسول وربلونه په اوږونو
مینه وینه یې له پردو چې کوي کرکه
نو وریتیږي هغه زړونه په اوږونو
د بامونو په سرو ددې کوترو
سوزیدلي دي وزرونه په اوږونو
د خوښۍ د سوزیدلو خلك ډیر دي
چا ونه سیزل غمونه په اوږونو
نیمو شپو کې مې غزلې هرې لیکلې
شول پولې مې دا لاسونه په اوږونو
میني ستا خو به ګیله له مانه کیږي
تیروم ترخه وختونه په اوږونو
د مرګ غیږ کې دې زړه سوانده ولې وسول؟
تا دخپل ژوند تصویرونه په اوږونو

www.shaidam.com

# وزم

بیا په شاړې کوځې راغلم

د اشنا د پښو پل مې

لاهماغسې تك سورو

د پرهر غوندې په وینو

✿✿✿

بیا په شاړې کوځې راغلم

د کوڅو د دیوالونو

په اور سوي خړې لوټې

خورېنې شوې وې په اوښکو

✿✿✿

بیا په شاړې کوځې راغلم

د کوځې نه لاتر اوسه

د سرو وینو وږم خیژي

د باروتو بوی جګیږي

www.sikaraam.com

بـــــيا پـــه شـــاړې کـــوڅـــې راغلـــم

کــــــــوڅـــــې مـــاتـــه وژړلـــه

مـــا کـــــوڅې تـه اوښکې تـوی کـړې

✿✿✿

بـــــيا پـــه شـــاړې کـــوڅـــې راغلـــم

پـــه دې لارو او کــــــوڅــــو کــــــې

هـــــــره ورځ کــــرل بـادونـــو

د تـــــيرو اغـــــــــزو تخمـــــونـــه

✿✿✿

بـــــيا پـــه شـــاړې کـــوڅـــې راغلـــم

د مـــــــرګــي سيــوری لا خـــــورو

د کــــــوڅـــــې پـــه تـــنـدې باندې

بـــيـلـه مــــانـه دې کــــــــوڅـې ته

هـــــيچــا ســـر راښکـــاره نه کــړه

www.Sikandarn.com

# پردیسوته

لیږې، لیږې له کورونو

مساپرو خویندو وروڼو

چورمو جوړ دی په ګلونو

❁❁❁

لیږې، لیږې له کورونو

مسابرو خویندو وروڼو

تاسو هم لرل کورونه

ښکلي، ښکلي چمنونه

درنه واخستل جنګونو

❁❁❁

لیږې، لیږې له کورونو

مساپرو خویندو وروڼو

ستاسو کور او په چمن کې

په ښایسه ښکلي وطن کې

اوړولي دي مرګونو

❁❁❁

www.sikaraam.com

لـــيري ,لـــيري له كـــورونـــو

مســـــاپـروخـــويـــندوورونــو

درپه زړه چـــي خـــپل وطـن شــي

درپه يــــادچـــي خـــپل چمن شـي

څـــــه تيـــريـــبزي موپه زړونـــو؟

✿✿✿

ليـــــري ,ليـــري لـــه كـورونـــو

مســـــاپـروخـــويـــندوورونــو

هلـــــته دلــــــــته سـركـــردانــه

ستـــــري ,ستـــري اوستومــــانــه

تاسوكــــــــــــــرلي وحشتــونـــو

✿✿✿

ليـــــري ,ليـــري له كـــورونـــو

مســـــاپـروخـــويـنــدوورونـــو

څـــوبـــه سوزي خـوږ وطـن مو؟

دملـــت زخمـــــي بـــــدن مو؟

دپـــــردیــــــویه اورونـــــــو

www.sikaraam.com

# د زړه وینې

د خپل زړه په وینو سره دغه غاټول دي

شاو خوا ترینه زخمي ګلان راټول دي

هر یو غږیږي دی غلیم ته د مرګ زیری

دا غږونه د غزا د کوم یو ډول دي

دومره ویني دې وطن کې دي توي شوي

چې وتلي هم له شمیر او هم له تول دي

دا خیلونه خو پردیو یکي جوړ کړي

غمي وایه پښتانه د یو کهول دي

څه بې قدره دي پښتني شاه و کوڅو کې

دا ټوټې خو د زړه سواند د مات کچکول دي

www.sikaraam.com

# نیمه شپه

له رقیب او له بیلتون انتقام واخلم
چې په لاس کې ستا د زلفو زه دام واخلم

زه پرې شیخه د خپل زړه زخمونه مینځم
غوسه مه کړه د ساقي نه چې جام واخلم

یو رنګین غوندې خوب ګورم نیمه شپه کې
په زاري د رنه خولګی پاس په بام واخلم

پخسومه پرې د ستورو مین زړونه
چې امیل دې زه په ګوتو ماښام واخلم

د تومت کاڼي تندي د زړه سواند مات کړي
چې دا ستا د کوڅې خواته یو ګام واخلم

# امیلونه

ګل که په اغزو کې سترګې پټې کړې
ما هم په غمو کې سترګې پټې کړې
زه او خوب خو ډیر یو له یو بل لیرې
هسې مې بڼو کې سترګې پټې کړې
نورو امیلونه کړل له ستورو جوړ
مونږه تورتمو کې سترګې پټې کړې
شمعه تر سهاره پوری بله شوه
اخر یې په سلګو کې سترګې پټې کړې
دغه ده د غم او د ستم نښه
اوښکو په لمبو کې سترګې پټې کړې
ډیرو د غاټول غونډې ګلونو مو
دښتو او میرو کې سترګې پټې کړې
وکړیده ډیره د زړه سواند مینه
نن یې په دردو کې سترګې پټې کړې

# کونډه شوې پېغله

کونډه شوې پېغله ناسته ده ابۍ ته
خواره ژړا یې د ابۍ هرې سلګۍ ته
خوب کې ګوري چې همدې پسې یې راوړې
شي خوشاله پټه زړه کې دې ډولۍ ته
خپل بې وسه ژوند یې سترګو ته ودرېږي
اوښکې توی کړي مړاوي ګل مړاوي غوټۍ ته
که هر څو کړي د خیالونو دنیا جوړه
د غریبۍ موسکا رانه غلې خولګۍ ته
تور کالي یې د غمونو دي اغوستي
خدایزو ورته په ښایست کې ده سپوږمۍ ته
پیوندونه یې ټیکري ته دومره ایښي
لکه ایښي چې زړه سواند خپلې پګړۍ ته

www.sikaraam.com

# تصویر

د مرګي سیوری زما د ژوند تصویر دی
یو تصویر مې بل تصویر ته ځکه ځیر دی
دا د مینې قاتلان به مو په دار شي
دا زما د نیمو شپو د خوب تعبیر دی
د زړه غوښې مې په اور ځانته وریتې کړې
راته وایي دغه کار ټول د تقدیر دی
چا ته غم چا ته خوښي راوړي ځولۍ کې
د وختونو د پیرو دغه بهیر دی
یو بدن یې چې په دوه برخو بیل کړی
لا پر زړه باندې مو پروت هغه ځنځیر دی
چا چې نه پرېښوده لوبو کې هیڅکله
هغه اوس د دغو ټولو لوبو میر دی
هر یو کلی د دې وران تالا وطن مې
ماته ښکلی ، ما ته ګران له ټول کشمیر دی
چې سپوږمۍ مې چیرې مخ لیدلی نه و
هلته دلته د هغو ژړا او ویر دی
د پردو (تطمیع) له خپلو نه هیر کړې
دا زمونږ یتیم ملت ځکه زهیر دی
غواړې نرم کړې په اوښکو کاڼي زړونه
ځومره خام زړه سوانده ستا دغه تدبیر دی

# غرونه

هر سهار به راختلمه په غرونو
مازیګر به پریوتلمه په غرونو
جوړول به می له ستورو امیلونه
پاس چی کله اوسیدلمه په غرونو
په پټو به می پښی وی د تنهاکو
تا پسی به ګرځیدلمه په غرونو
شین منګی به دی چینی ته په سر راوړ
ستا ښایست به پخسولمه په غرونو
د لونګو پر ګلونو به ویده شوم
چی خوبونو به زه وړلمه په غرونو
ستا ارمان می غږونی کړی په زړه کی
چی غاټولو لوبولمه په غرونو
چی د بام سرته به پورته شوی ته کله
تا به ډیر ځلی لیدلمه په غرونو
مړاوو ګلوته می اوښکی شولی پرخی
خپل نصیب می ګورولمه په غرونو
د زړه سواند په زړه به څه تریدل خدایزده
مینی تا چی ګرځولمه په غرونو

# شناخته

زما د ړنګ شوي او هیر شوي قبر

په شناخته ناسته

تر یو مدلی مرغی

غږ وي سانده د ویر

بولي د غم سندری

☺☺☺

زما د ړنګ شوي او هیر شوي قبر

په شناخته ناسته

تر یو مدلی مرغی

په دې سوو سانندو

د ویر ماتم په نغمو

یادوي ماته

www.sikaraam.com

## د ژوند او مينې کيسې

☺☺☺

زما د زړه شوي او هير شوي قبر

په شناخته ناسته

تر يو دلې مرغي

کله چې زمونږ د کلي

مباته د غم خبرې

☺☺☺

وا وره زما د زړه کې

د غرې مرغى ته ښکاري

مه غورځوه دامونه

يو وخت به راوړي راته

دا تر يو دلې مرغي

د خوښې د ګ خبرونه

www.sikaraam.com

# تلوار

بوی دوږمو دا ستا له هار پورته شو
چې او سیلی مې له پرهار پورته شو
پرمخ یې پریوتې دلمر وړانګې
شبنم د ګلو، نه سهار پورته شو
د ګناهګار ناصح یې نه منله
په دې ګناه منصور په دار پورته شو
چا د لوڼګو درمند وسو په اور
لوګی زمونږ له کلي ښار پورته شو
یو سور او تور مار د مرغیو ځالې ته
څومره په بد نیت په چینار پورته شو
تویوي اوښکې به د کومې غوټۍ
د ګل قاتل بیا په تلوار پورته شو
بیا به اتڼ د ښاپیرو سره کړي
غم مې د زړه نه که یو وار پورته شو
چې مې د زړه وینې پرې وڅڅیدې
شور د سکروټو له انګار پورته شو
ریښې ، ریښې به یې ګریوان کړي ورته
د لیونو منځ کې هوښیار پورته شو
سوغات یې بوله د زړه سواند دمینې
که سور غاټول یې په مزار پورته شو

www.sikaraam.com

## ځرنښتب

که می سترګی په دیدن د یار مړی کړم

د رقیب په زړه به ښخی زه چړی کړم

د غوټی شونډی به داغ کړي که پری توی شي

پریږدیٔ اوښکی می په سترګو کی سرې کړم

تا خوخته په ما واغوستي په ژوند به

خدای خبر که دا جامی چیری زړی کړم

چی د لاس تښه دی ګور کی راسره وي

ځانته جوړ به می کفن ستا له جوړي کړم

ستا زخمونه پری زړه سواندنه رغیږي

دا سلګی می که زه غمی که وړی کړم

ننګرهار روغتون

www.shkaredam.com

# لمبې

څنګه دې شغله وعدې ماتې کړلې
چې دې زما پرې توبې ماتې کړلې
تاسو خو چښې زمونږ دزړونو وینې
مونږ به اوښکو روژې ماتې کړلې
چې تول جهان یې د خپل ځان بللو
مونږ یې د زور ارادې ماتې کړلې
یو ځلې سرې بل ځلې تورې سیلۍ
زمونږ د ګلو غنچې ماتې کړلې
ملته اِستا قاتل پردیو ته څنګه ؟
دا ستا د کلي تمبې ماتې کړلې
راغلې تیارې د رڼاګانو په نوم
دلته یې بلې ډیوې ماتې کړلې
د اقتدار او د قدرت لوبو ته
ناصحه تا هم تسبې ماتې کړلې
زړه سوانده ستا سرو ، سرو اوسیلو
د سرو سکروټو لمبې ماتې کړلې

www.sikaraam.com

# شونډې

بڼ کې د ګلونو شونډې وچې دي

خو د وربلونو شونډې وچې دي

نشته پرې د پېغلو د سالو سیوری

بیا د ګودرونو شونډې وچې دي

سترګو کې چینې د اوښکو وچې شوې

جوړ د ګوبوټونو شونډې وچې دي

خدایزده چې سبا ځان سره څه راوړي

نن خو مو د زړونو شونډې وچې دي

ورانه میکده ده ساقي نشته دی

دا چې د جامونو شونډې وچې دي

خدایږو د افغان ددې یتیم ملت

تل د ارمانونو شونډې وچې دي

سترګې چې پړواکاو غني پټې کړې

اوس د غزلونو شونډې وچې دي

نه زدې څوک زړه سوانده پرې ملهم درته

ستا د بهارونو شونډې وچې دي

www.sikaraam.com

د خاطر د غزل په اقتفا

# جونگړه

وهـلی مـونـږ کـېږدی ده د اوروونو په سرونو
کـرلـي مونـــــــږه اوښکی د قبرونو په سرونو
راځه له کینه ګـــــرو یی اشنا کــړو لیری جوړه
د مینی یوه جــونگـــــړه پاس د غرونو په سرونو
ورخــــېژو ښکـلوو مـونـــږ د سپوږمی د پلوشو مخ
اوږدې لارې وهــو د ارمـــانـــونـــو پـــه ســـرونو
د کلي توتکی مو خـــــدایزده چیرته شوې پردیسې
واړه بچــــې يې يـووړل د وزرونو په ســـــرونو
د مینی په چـــــمن کی د رڼو پرخو پر ځای اوس
ســکـــروټې راوریږی د ګلــــونو په سرونو
جـــانانه لـــه ما مه غواړه خوږی , خوږی سندرې
تـــڼاکی زمونـــــږ جوړګ شوې د زړونو په سرونو
خیردی که زړه سوانده نن مو خـوري د زړونو غوښې
ســـبابه پښې کـــېږدو د غمونو په ســــرونو

sibewaal.com

# ګریوان

پریزده جانانه چې ګریوان څیرې کړم
لیرې شه مانه چې ګریوان څیرې کړم
ته یې بیا خانده په ریښو تارونو
د زړه ارمانه چې ګریوان څیرې کړم
تپوس یې کړه له مات تندي نه زما
پټ مې له تانه چې ګریوان څیرې کړم
څه به مې بولې لیونې د مینې
درته مې ګرانه چې ګریوان څیرې کړم
چیرته به تم شي دا یتیمې اوښکې
روحه ستومانه چې ګریوان څیرې کړم
ته ددې کلکو زړو مالت کې مه کړه
ګیله له چا نه چې ګریوان څیرې کړم
څوك مې د زړه تنهاکې کله ګورې
ژونده نادانه که ګریوان څیرې کړم
زه د زړه سواند دا بد نصیبه مینه
شمه حیرانه چې ګریوان څیرې کړم

www.sikaraam.com

# سپیلني

لوګي، لوګي، سپیلني کله راځي
څيرې ګريوان ليوني کله راځي
د ديدنونو کوڅې شاړې شولې
بيا د وصال پېرېماني کله راځي
نه راستنيږي بېرته تېر وختونه
د هديرو زنداني کله راځي
د زړه تپوس ته مې نن ګل جانانه!
ستونه ستا پروني کله راځي
ګلونه غواړي مې دا وښکو پرخې
ليمو ته وخت باراني کله راځي
چې ټوله شپه مې پکې ته ليدلې
خوبونه بيا بېګاني کله راځي
خولې ته د روغجنه په زړه سخته اشنا
لوظونه ستا پښتني کله راځي
چې وي د بڼ او د ګلونو مالي
ورته بردي، ساراني کله راځي
زموږ د وينو غوندې ستا د وينو
رقيبه دا ارزاني کله راځي؟
چېرته چې زړونه وي له مينې نه جوړ
هلته کينې ترېګني کله راځي
دا ستا د عمر ګلان ورژېدل
بيا دي زړه سوانده ځواني کله راځي

# دجفاغشي

د ځو ورځو مساپر یم بیرته ځمه
د خپل ژوند نه مرور یم بیرته ځمه

د مینی څپو راوړم په راتلو مې
زه نه پوه او نه خبر یم بیرته ځمه

لګیدلی د جفا په تیرو غشو
د ژوندون زړګی په سر یم بیرته ځمه

چې دی ستړګې سودا ګری شوې د زړو
پښیمان په دی سفر یم بیزته ځمه

خدای خبر چې به په کومو غرو پریوځم
لکه لمر د مازیګر یم بیرته ځمه

د بی قدرو په مالت کی قدر نشته
وخته ! اوس په دی باور یم بیرته ځمه

لکه هیری چې کړي وخت د یتیم اوښکی
هسی هیر ستا له نظر یم بیرته ځمه

نه رغیږم نه بیلیږمه تری چیری
د زړه سواند د زړه پرهر یم بیرته ځمه

www.sikaraam.com

# وينو ته

وينو نه شي ددى خاورو اميلونه
چي ناولي پري كينزدي قدمونه
دا چي سره ،سره يشكاره كيزي په بيديا كي
تاسو پريمنځل غاټولو ته مخونه
په سرو مخاڅكو به يي سرى شاهى كوڅي وي
كه هر څو ورباندي تير شي ديركلونه
لا تر اوسه ويده پاتي دي لا مونږ نه
لكه تاسو غوندي غروكي سره لعلونه
پتوي يي د نكريزو په رنگونو
چي قاتل په تاسو سره كړ لا سه لاسونه
د هغو به مخكي توي له زخمونه شي
چي له كلونه يي كلك وي لا هم زړونه
ترهغي به وينو تاسو ترى څڅيږي
څو چي وي ددې زړه سواند په زړه زخمونه

www.sikaraam.com

# پرښنا

راښکاره لکه پرښنا شي کله کله

چې قبوله مې دعا شي کله کله

په سرو شونډو يې خوږه موسکا شي تېره

مهربانه چې په ما شي کله کله

چې پخپله په خپل حسن شوې مينه

اوس زماکانې په تا شي کله کله

چې صانع ته د بنکلا مې فکر يوسي

مين زړه يې باغي زما شي کله کله

چې يو بل ته مخامخ زړه سوانده کښينو

مينه، مينه دا دنيا شي کله کله

www.sikareem.com

# مخرونه

په زړه زخمونه د غوټې ایښي دي
اغزویې شونډې په خولګې ایښې دي
د چا پښې شولې په اور تناکې
د چا ګامونه په سپوږمۍ ایښي دي
که ملوك بیرته شو راستون کلي ته
نډرونه ډیر په ځان بدرې ایښي دي
په هغو زړونو کې لاشته دې کینې
چې پرې داغونه ملالې ایښي دي
پردې وطن دې په دې کلکو تیږو
زمونږ سرونه پردیسې ایښي دي
چې یې دېيغلو لوپټې خرڅې کړې
خله هغو په سر پګړې ایښې دي
ګوره سبا چې پرې منکره نشې
تا مې په زړه ډیرې پولې ایښي دي
ریښې، ریښې چې لیونو کړې راته
بیا مې په دې ګریوان تڼې ایښې دي
د زړه سواند اوښکې ورته پرخه شولې
تا چې ګلونه په کوڅې ایښي دي

www.sherdarman.com

# څرنګې

چې مې زړګې چیرته د یار سره ځي
څرېکې دردونه د پرهار سره ځي
له سوزیدو کله ویریږي پتنګ
د سرو لمبو او د انګار سره ځي
مخ نه دی لیری کړه دا توری څنې
توری تیاری خو د سهار سره ځي
د هغو خپلو په مخ لاړی تو کړئ
چې مو وژلو ته اغیار سره ځي
دا لیونی نه رسي خپل منزل ته
د یو قاتل رهزن هوښیار سره ځي
د شپې دې , مه شرنګوه لاس کې بنګړي
خوب یې زما د شرنګهار سره ځي
منصوره ستا په پل مې پل ایښی دی
مینه مې سیوري غوندی دار سره ځي
د میکدې خواله اوس شیخ او ساقي
دواړه جوړه په یوی لار سره ځي
زړه سوانده ستا دا تریندلی احساس
نه د خزان نه د بهار سره ځي

www.cikaream.com

# تير يادونه

نڅېده به راته مينه په سپوږمۍ کې
اوسېدلو به چې موږ به کېږدۍ کې

خېمو د هستوکې سپرلی زمونږ ميلمه و
ايښودل به مې غاټول درته کوڅې کې

څه خوږې خوږې نغمې يې غږولې
څومره خوند و د شپونکي خېمې شپېلۍ کې

ډېرې ژړې هغه خوږې شېبې شوې تېرې
چې ګلونه دې ټومبل ماته په ګېړۍ کې

چې ترخه، ترخه وختونه په مونږ راغلل
له زخمو زګيروي خېژي په تروږمۍ کې

اوس دې مخ په خپلو اوښکو باندې مينځې
چې به پرخو پرېمنځه درته ځوانۍ کې

www.sikaraam.com

څوك شو پاتې د خپل كلي هــــدېرې تــــه
چا كړې تېرې د غــم شپې په پردېسى كـــې

غا ړه كې د كومې پېغلې خوب كې كوړي
مرغلـــرو ويـــده شـوې په سيپۍ كـــې

د خوشال او د اكـــبر د توري شــرنګ شو
خداى زده څه و پښتون غـــېرز د ملالۍ كـــې

زړانه هېر مې يو دښمن نه كـــړې وطـــنه
ورپښـــتــو نــو د زړلو او د كـولۍ كـــې

دا زمونږ د غـــم لړلي ژونــد كيســه به
رسي پـاى تـــه وخته ستا كومې پېړۍ كـې؟

د سرو وينو سمندر كــى زمــا ژونـــده
چېرته څې نـــن د مــرګي ماتې پېړۍ كـې

ســـتا د حسن نښې ونه ليـدې چـــېرې
د زړه سواند مينى بـه ګـل او په غوټۍ كـې

www.sikaraam.com

# پاڅکي

د سکروټو په سرونو څاڅکي ،څاڅکي

پرتې وینې مو د زړونو څاڅکي ، څاڅکي

د لیمونه مې نم توی شو پرخه ، پرخه

د رنځور زړه په زخمونو څاڅکي ،څاڅکي

اوس له ستورو او سپوږمۍ نه شبنم غواړي

ددې بڼ مړاوي ګلونه څاڅکي ، څاڅکي

له ساقي شو محتسب ته شراب پاتې

غړپوي له دې جامونو څاڅکي ، څاڅکي

خوب کې ګورم د زړه سواند اوښکې ځنګېزي

ستا د زلفو په تارونو څاڅکي ، څاڅکي

www.sikaraam.com

# تیندکونه

په ټپونو هر سهار ورته ملهم ږدي
د غوټی پر شونډو، شونډوی چې شبنم ږدي
د بلبل پری زړه او مینه ټپي کیږي
په هر ګل چې ګل دښمن کله قدم ږدي
تر منزله پوری نه خوري تیندکونه
چې ګامونه د منزل په لاره سم ږدي
په دې ویش دې د وختونو غاړه بنده
زورورو ته خوښې غریب ته غم ږدي
سرکښولی به وهي به ګړنګو کې
د پردیو په پل چې پل څوک په تورتم ږدي
پښتوې قاتل زمونږ د وینو سره پری
چې نکریزی په لاسو رقم، رقم ږدي
کونډه مور د خپل شهید بچي په قبر
هر ماښام ځیری ګریوان د سترګو نم ږدي
هغه سترګې دې ړندې شي چې نظر بی

www.sikaraam.com

راته زهر په زخمو د کلي چم ږدي
د بهر ديو په ميکدو کې رابښکاره شول

په کعبه کې چې اسونه په قسم ږدي
د وطن د پرهرونو انځور کاږي

چې احساس مې کله ګوتې په قلم ږدي
پښتنې پېغلې غېږه دې په وربل کې

نه ګلونه د نارنج نه د شبنم ږدي
هغه ګوتې ښکلوي مظلومې اوښکې

چې په زړه باندې داغونه د ستم ږدي
د وطن په اندامو چې وهي شغوند څوک

په ليمو راته سکروټې په هر دم ږدي
چې بل څوک يې په خپل زور په ګډو کښېنوي

د ملت په اوږو پېټې د ماتم ږدي
چې مې مخ ورته په اوښکو پرېمنځلو

اوس ځکا مونه د مزار خواته مې کم ږدي
د زړه سوانده رنځور زړګي به څنګه جوړ شي

څه زخمونه پرې رقيب او څه صنم ږدي

ګران نا لیدلې دوست (شپون) صاحب ته ډالۍ:

# بــدلون

دا زمـــونږ د بـــد نصیبو څـه ژونـدون دی
دوصال پـــرڅـــای په برخه مو بیلتون دی
هــــریو تــــاریې دخپل ورور وینو سور کړی
دا ریښې ، ریښې ګـــریوان دکــــوم پښتون دی
قافله دارمـــانو مـــوهـــغولـــوټ کړه
چې له مونږڅنی هــیر کــړی چـا پـرون دی
یو دبــــل ویـــنو تـــه تـــږي سره ناست یو
چـــې پـــردو رانـــه اخستـــی پیوستون دی
په تـــیاروکـــــې بلــــوو ډیوی داوښکو
خـــپه شـــوی چې له مو نـــږ نه سباوون دی
په اغـــــزو بـــه دچـــمـــن ګلونه وژني
دبــــد رنګــــو تقدیـــرو دغه قانون دی
چې د ســـرو لښکـــرو مخکې یې اتڼ کـړ
اوس یـــــې ژونـــد لکه هوسۍ په میږتون دی

www.sikaraam.com

دګـــــــورګین پسې پــه تـــوغ او نغارو تله

ځله هـــیر مــو دپلـــرو هغه پا ځون دی

دا غریب وطـــن وران کـــړی ځو، ځو ځلی

مونږ په نوم یـــاد سمون یـادبـــدلون دی

دوطن اوملت غـــم مـــې زړه رنځورکړ

مجبوری نه دویم کـــــور زمـــا روغتون دی

چې ملی هـــر رهــــزن مونږه مخکښ دی

عـقله وایـــه دغـــه پـــوهه که جنون دی ؟

په کارغــــانو بــه توتیان شړي له بڼ نه

دې ترخو وختونو کـــړی دا تـــړون دی

په رڼـا ورځ ځـــناورو تـــرې خـــوړلي

ویـــده شوی چـــې دکـــومې رمې شپون دی

هغه ګل مـــو دچـــمن ابـــراهیمي شو

چي د ســـرو اورونو منځ کـــې رازرغون دی

چې ستا ګل وربـل کې نـه ږدي اوس زړه سـوانده!

اوریــــدلی دی اشـنا دبـــل لمسون دی

# مراوێ غوتنێ

که دا پردێ زه پـــرێ زندێ نـــه کـــرمـــه
ویـــارێ بـــه پـــه زلـــفو دخـــوانـــێ نه کرمه
داشنـــا مینـــه خنگـــومـــه بـــه پکـــێ
لـــندێ بـــه هیـــخ وخـــتێ کـــوخێ نه کرمه
تویـــوم پرخـــێ بـــه لـــه سترگونه پـــرێ
خوچێ تـــازه مـــراوێ غـــوتنێ نـــه کرمـــه
ددێ بـــێ قـــدرودبـــێ قـــدرو کـــوخو
هیرێ به شپـــێ دپردیـــسێ نـــه کـــرمه
هسکـــه بـــه ساتـــمه شملـــه دمیرویس
ننك به مـــێ هیر دملالـــێ نـــه کـــرمـــه
لگـــێ دنـــورو پرێ نـــاولێ سترگـــێ
پتو که خنـــوکـــێ خـــولگێ نـــه کـــرمه
چێ پر سر ایسێ وێ بـــێ ننگـــه زلمـــێ
سکل به هیخکـــله دا پگـــرێ نـــه کـــرمه
دخوز وطن ورانـــه جونگـــره بـــه مـــێ
ور به دنورو پـــه مـــانـــێ نـــه کـــرمه
پشتنه پیغلـــه به زره ســـوانده نـــه یـــم
که په رقیب بـــوره ابـــێ نـــه کـــرمـــه

www.sikaraam.com

# رنځور زړه

سره بيل به زما روح زما بدن شي
که همداسې رنځور پاتې د زړه تن شي
او سيلي مې ستورې ښکل کړي پيرته راشي
داکانې راباندې هر يو ماخوستن شي
په مرګي چې دبلبل سترګې شي پټې
کيسه ختمه دګلونو ديدن شي
دومره ډيرې هديرې شوې ته به وايې
دقبرو باران زمونږه په وطن شي
راته سرته اشنا کښېنه دعا وکړه
چې اسانه مې سلګۍ د ځنکدن شي
ورانوې يې په دې خپلو څوبې ټو
په وطن موکله رحم د دښمن شي
چې پرون يې راته مخ ونه يې شاکړه
د زړه سوانده به ترنه پټ مخ په کفن شي

ننګرهار روغتون

www.sikaraam.com

# د ګلونو قاتل

بڼ ته بیا راغی د ګلونو قاتل
ګل ته د ګل د سترګکونو قاتل
هر مازیګر کړي اغزي اروکو
د دیدنو او ګودرونو قاتل
وژني احساس او مینه هواړه راته
زما او ستا د ارمانونو قاتل
څومره دي پېر د خوشالو قاتلان
خو هیڅوک نه شو د غمونو قاتل
د شیطان شاته راته ګمان پڅوي
زموږ د ژوند او د سرونو قاتل
اړوي سر باندي اوس وک خوله
ګمان یو باله چې دهامونو قاتل
موږ یې خبرو، کالیو تیرایستلو
عمل یې شو د ایمانونو قاتل
چې لروي زموږ د زړونو کعبې
کاشکې په دارشي ها د زړونو قاتل
د ګناهونو سین کې ډوب شو هسته!
ها د ښایسته او وربلونو قاتل
شو د هوسونو دوسونو غلام
د خوږې مینې د منزلونو قاتل
هاسې ملهم زړګیه خوارې زړه سوانده
چې شي ها ستا د پرهرونو قاتل

## ګیله

درته جوړ به مې له اوښکو نه امیل کړم

تاو راتاو به تري ګلونه د چمبیل کړم

ستا ښکلا او خپلې مینې ته ښیري کړم

ستا د تورو زلفو دام کې یې زه ښکیل کړم

څو روي مې (ژونده) خپلو کې جوړ نه دي

که دې خوښه وي دا روح او تن به بیل کړم

چې ګروان یې ورته څیري اغزي نه کړي

ورته یو به دا نرګس او دا رامبیل کړم

تر هغې به د زړه سواند دغه زاري وي

خو دې هېر له دې مغرور ښاهیت نه تحمیل کړم

www.

# د سرونو سوداګر

د زړه وینې سوزوم هغې ډیوه کې
چې بلېږي هر ماښام په هدیره کې
خونړۍ سیلۍ چې راغلې دې چمن ته
تري ګلانو کړې وکړې نیمه شپه کې
زه پېري راغلم لا هماغسې پرتې وې
د چا اوښکې د چا وینې په کوڅه کې
خه ترخه جفا ، ریاوه پکې پټه
د زاهد هرې توبې هرې وعده کې
دا زمونږه د سرونو سوداګر خو
کله ناست وي میکدې کله کعبه کې
ډېرې ایښې چې پردوته دي پښو کې
دا غلام تندي اوس بد ښکاري سجده کې
که همداسې بې مالي ، شاړه پرته وي
سره او تور کارغان به ګرځي په باغچه کې
دا څه وشول دا څه کېږي په دې کلي
لګیدلی د غم اور هره دیره کې
په بنو یې ورته لار جاروکوله
هغه نه وه د زړه سواند په جنازه کې

www.sikaraam.com

# ناکام

دلونګوبوی دې نه راځي له بامه
نسیم پوښتم له سهارنه تر ماښامه
دسکروتو په تندي باندې مې ایښې
دېښو تنهاکې پوښتنه مې له ګامه
په پیالوکی دلیمومې نه ځایېږي
تویومه زه مې اوښکې له ناکامه
ته دیو او زه د بل وطن پردیس شوم
ما خو داسې غوښتي نه وه له ایامه
دخپل زړه وینې به ولې ما خوړلای
که خبر وای مینې ستا له دې انجامه
دګلانو ځای به ورو ,ورو اغزي نیسي
نه جوړیږي څه دپرخوله قیامه
قافلې دارمانونو یې زمونږ لوټ کړې
چې په غلو دې واړولو فکره خامه
دملت وینې موچا دي پکې څښلي ؟
دا تپوس به مونږکوو یو وخت له جامه
چې پخپله یې واعظ په ضد عمل کړي
خوندې څنګه مونږه واخلو له کلامه

چې موسر ،ناموس او مال پکې خوندي وي
ځارله هسې واکمنې او له نظامه
(سرو) او (تورو) غوړولې وېکې بند شو
خبرنه وود تګې له دغه دامه
مونږه ټوله نړۍ خلاصه له خطر کړه
خو پخپله مونږه پاتې شو نارامه
لیدل شوي ډیر ملي لوی خیا نتونه
د حرصونو هوسونو له غلامه
ورانوې به دې خپل کور وژني به ورور خپل
ځان دې ساته د پردیو له انعامه
د هرګل هرې غوټۍ سره کرم مینه
نه ډاریږم د زوزانو له الزامه
د (کاروان ) د جرس غږ دی وړاندی درومي
ته یې وینې له خو به نه کړې ویده قامه
د ظالم د کبر جام اخر نسکور دی
نه خلاصیږي دوختو له انتقامه
داحساس خاوند یی اوري ورته ژاړي
زګیروي خیژي د وطن له هر اندامه
چې لاسونه یې زمونږ په وینو سره دي
هیر به نشي د زړه سواند د زړه له پامه

# لوګی

چې د ګناه یې سي په نوم ځوك د ثواب جګیږي
د وخت په ګوتو یې له مخ نه اوس نقاب جګیږي

چې نڅیده به د اکتوبر انقلاب ته هر وخت
دا سرې لمبې یې له هماغې انقلاب جګیږي

ددې خوږو، خوږو وږمو او د رنګونو پر ځای
بوی د بارو توانګو نه د ګلاب جګیږي

چا مو شهید کړ ددې کلي دا سپیڅلی جومات
چې او سیلي، او خړې دوړې له محراب جګیږي

چې امرولی یې اوږدې، اوږدې تسبې پرې پرون
نن یې په هغه لاس ډك جام بیا د شراب جګیږي

چې کومه پیغله تل په ستر او حیا کې ګرځي
د ګل غوټۍ شي نو وږمې یې له حجاب جګیږي

www.sikaraam.com

د مطرب ګوتې چا پرې کړې معلومېږي هسې

چې نه نغمه له دې شپيلۍ نه له رباب جګېږي

دا ستا پر شونډو يې موسکا دمينې وليدله

د زخمي زړه نه مې زګيروي چې په حساب جګېږي

زړه يې چې ژړه د پښتو سکنۍ خوږ ګڼمه

د پښتو مرګ يې هسې هم دا خانه خراب جګېږي

که پښتونخوا کې ورته جوړه دنګ مورچل نه کړې ته

پښتونه ستا په ضد به غم تل له پنجاب جګېږي

چې د زړه سواند ستر ګې شوې پټې د مرګي په ګوتو

اوس يې لوګې هم له قلم هم له کتاب جګېږي

# پاولي

ستا که پاولې داني، داني شرنګېږي
زما پښو کي زولني شرنګېږي
دا هسکې زما په مټو کي يا
په تور د ميني زماني شرنګېږي
ستا په لاسو کي د سرو زرو کړي
څومره په خوند درني، درني شرنګېږي
يا خوږه شوي يا څه کېږي خلکو
د خوشحال تورې پښتني شرنګېږي
زړه سواند يې ګوري شيخه ستا په ګوتو
د شپې زخيږ د ميخاني شرنګېږي

www.sikaraam.com

# ترڅه وخښتونه

نه تیریږي دا ترخه ترخه وختونه

نه هیریږي دا ترخه ترخه وختونه

د باران غوندې زمونږ د زړه په دښته

راوریږي دا ترخه ترخه وختونه

خوري زمونږ د زړونو غوښې په غمونو

لا دیریږي دا ترخه ترخه وختونه

هره ورځ دړوند په بڼ کې نوي، نوي

راخوریږي دا ترخه ترخه وختونه

له پیرو له او سیلونه خو زړه سوانده

نه ویریږي دا ترخه، ترخه وختونه

www.sinatidalkt.com

# اور

چې سور سالو دي په سر اور واخسته

پټ مې په زړه کې پر هر اور واخسته

د رقیب پل مې ستا کوڅه کې ولید

زما لیمو کې نظر اور واخسته

د کومې پېغلې د لونګو څو نبړي

بیا په سینه او ټټر اور واخسته

نور و تیارې کړې په رڼا بدلې

مونږ نه سپید وا و سحر اور واخسته

سپینه کوتره تر ښه لاړه چیرته

باس یې په بام چې وزر اور واخسته

چې د کندوالو اوسیلي تر ېختل

www.sikeraam.com

ما وی چې ګونډې خیبر اور واخسته

پردیو کړ بل دا ستا په خپلو باندې

وطنه ! تا له بهر اور واخسته

چې ور ته نور و کړې له ویرې سجدې

دلته د هغو لښکر اور واخسته

چې رانږدې شول وزمونږ کلي ته

دریغه برات او اختر اور واخسته

یکې انځور د زخمي زړونه و

دې تخیل او هنر اور واخسته

زړه سوانده و سول ور بلونه یکې

ښکلي ګودر مازیګر اور واخسته

www.sikaraam.com

محترم اروانښاد (ملال) اودرنې (پروین ملال) ته ټالی :

# ټال

زه پوه نه شوم چې ثواب او که وبـــال و
اچولی منی تا څنګو کــې تــــــال و
خوب کې ګورم ور ته سر په غیز کې ږدم
چې راویښ شوم نه جانان او نه وصـــال و
لا تــر اوسه هغه وخت پرخې ته یـاد دی
ګل نه کړی چې غوټې د خولګۍ سـوال و
د ر ته یاد دي او کنه ورانه ګــــودره
ما زیګر د دید نونو ښه مهـــــــال و
چې خولې د څنګدن مې شوې پرې وچـــې
دا خوسټا د تورو زلفو خوږ شــمال و
ریا کا ر زاهد یې نه پرېښود محراب کــې
څومره خوږ د تکبیرو غږ د (بـــلال) و
د ګه زوند د چمن ګل یې څوانیمرګ شــو
د (پروین) دمینې زړه څکـــه (مــلال) و

www.sikaraam.com

چې قاتل مود مرګ سیوري په ژوند وکړه
څه بد رنګ او بوږنوونکي هغه کال و
مونږه څکه سور شبا مار توتي، توتي کړ
لوټیدو پسې راغلي مود لال و
داسي غله اغزي هم راغلل زمونږ بڼ ته
نه خوندي تري د ګل مینه نه جمال و
راپه غاړه شول د تورو شپو مزلونه
ما نیولی ستا په تورو زلفو پال و
چې له ستورو پټاوه به پري تا مخ خپل
پریمنځلی دي په اوښکو ګل دا شال و
چې د ګل او د بلبل ژبه یې پریکړه
د بد رنګو سره لاس کې توره ډال و
د حمزه غزل شیندل چې پرې ګلونه
دا خو قبر د رحمان او د خوشال و
د زړه سواند د زړه هر داغ یې تخنولو
تا چې ایښی په تندي باندې شین خال و

www.sikaraam.com

# ستړی ژوند

ژوند لــه مانــه زه لــه ژونــد نــه مــرور یــم
دیــر ژر رانــه بیلــیزی تــرې خــبر یــم
د دې ســتړي ژونــد ســفر همدومــره بــس دی
لاروی زه د یوبـــــل اوږده ســــفر یـــم
لکـه محفلــي چــې خزلــې د بــاد مخکــې
دغمونــو منــځ کــې د غمــې اوتــر یـــم
د خپـل زړه زخــمونه شمیرمــه لګیـــابایم
محکـه پـوه نـه پـه ماښـام او نـه سـهر یـم
سپیلني غونــدې لوګــی شــوم پـه کوخـو کـې
نظـر مـاتی د کـوم حسـن او نظـر یـم
چې دا مینې، وینــې تولــی ســره یــو کــړي
راتلــو تــه منتظــر د دې اخــتر یــم
یو ماښام خـو د زړه سـواند تپـوس تـه راشـه
تـا ویشـتلی د رنځــور زړګــي پــر ســر یــم

جلال آباد – روفتون

www.sikarudam.com

# شهید ارمان

یو پردیس دی داهونو د سیلۍ سیوري ته ناست دی
بلوې ډیوې د اوښکو ترږمۍ سیوري ته ناست دی
سترې، سترې غروکې دروميږ چیرته لیرې بل وطن ته
دغرمو ګرمۍ وهلی د څیرې سیوري ته ناست دی
دخپل کلي کور په یاد کې د ماښام نه تر سهاره
دغمونو او دردونو د ځولۍ سیوري ته ناست دی
خپل نصیب ورسره مل دی په پردي اباد وطن کې
وچې شونډې وزی تږی دماښۍ سیوري ته ناست دی
پښتنو ته دعا کاندي لوی څښتن ته په زارۍ دی
بیې نیکه دغره لمن کې دګزدۍ سیوري ته ناست دی
ابدالي ته بې جوغه کې دغنمو وږي کیښود
صابرشاه ملنګ بې خوا کې دپګړۍ سیوري ته ناست دی
خوبه وړي به حساب ته له درانه خوب نه راویښ کړي
اسرافیل امر ته ګوري د شپیلۍ سیوري ته ناست دی

www.sikaradam.com

په څپانده سمندر کې ترینه لار ده ورکه شـــوې
ماښو سرپه زنګون ایښې د بیړۍ سیوري ته ناست دی
د هیواد د کونډې ناوې ددې اوښکو هریو څاڅکی
د شهید لالې په یاد یې د ډولـــۍ سیورې ناست دی
انتظار مې لارې څـاري د وصال په تـــــمه, تمه
د بیلتون دسروسکروتودسپرغۍ سیوري ته ناست دی
خپلې وینې مونږه توې کړې هدیرې موکړلې ډیرې
اوس رقیب راپورې خاندي د سپوږمۍ سیوري ته ناست دی
ستا دمینې شمعه ســـــوزي ستا په قبر ای زړګیه
په رڼا مین پتنګ یې د سلګۍ سیوري ته ناست دی
بینوا درنه لاړ نشــي د خپل حســـن ذکات ورکړه
دا زما سوالګرنظردې دخولګۍ سیوري ته ناست دی
دزړه سواندشهیدا رمان دی پرې خوږې وږمې لګیږي
ستا دتورو, تورو څڼو دکوڅې سیوري ته ناست دی

www.sikurdan.com

# مازیګر

لکه لمر د مازیګر په غرو پناه شوې

رانه لاړې په مودو، مودو پناه شوې

د خپل بڼ نه د سیلۍ په څپو ګله

یانې، یانې په سلګو، سلګو پناه شوې

د وربل وږمې دې دوړو او لوګیو کې

ولې مانه په کلو، کلو پناه شوې

چې خپل غږ مې پېرته اورمه پخپله

راته ښکارې په عمرو، عمرو پناه شوې

د زړه سواند ددې بیقدره اوښکو پرخې

څنګه شاته د تیرو اغزو پناه شوې

# کډه

زما د زړه نه ارمــان کــډه وکړه

چې مې له کلي جـــانان کډه وکړه

ستورو ډیر، ډیر وریــــې ؤژړلـــــه

بیګاه سپوږمۍ له ا سمان کډه وکــړه

په خړو خـــاورو کې یې واړولــــه

اوښکو زما له ګــــریوان کډه وکـــړه

یاخو دا میني لباسي شـــوې ټولـــې

یاخو وفا له جهـــــان کډه وکـــړه

موسکاد شــــونډو دې هم لاړه پـــسې

کله چې ستا ســـور پېزوان کــډه وکړه

بیابه دی سیوري غوندې ګرځم خوا کې

ا شنا که دا ځل هجـــران کډه وکړه

چې هرلاربشود یې د غـــلو مشر وخوت

مخ یې ترې واړو کـــاروان کډه وکړه

درته به زړدې زړه سوانـد ګلان ټخنوکې

که مو له بڼ نه خـــزان کډه وکړه

www.sikaraam.com

# خاوره

چې زړه کې مې ښکلې! ستا د مینې کور شو
ستا په سترګو مې هر ګل د سترګو تور شو
په ګلانو یې لوګی کړه کم لاس یې پرې کړه
په ګلانو، د قاتل نه، خپه لوړ شو
کاشکې بیرته تماپیرې ورته بیا راشي
له دې شاړو کوڅو هیر د پاولو شور شو
د ملت د هر قاتل انځور یې وایسته
د قلم زور په زورګیرو باندې زور شو
خپه شوې ده له مونږ نه خپله خاوره
بل مو خود د قدمونو لاندې اور شو
د ګولۍ د ګرمۍ سیوری دې پرې شوی
د بیدیا هر یو غاټول پرې سوی سکور شو
چې له ګل نه یې هم مخ پرې پټولو
مرګه! هغه سالونن په زړه سواند خوړ شو

# بنګو ځنګلا

غلو غمونو مې لوټ کــړی د زړه کــور و
ترینه وړی یې دخــوزې مینــې انځور و
پرې پردیو اوخپـلو دواړو نخښـه زده کړه
لګیدلې د ویاړځـــلې زما ګور و
چې درد را شي سرمې کیـــږدمه په خاورو
ډیر مې ایښې په زنګـــون دخپلې مور و
ډیرې اوښکې مې پرې توی کړې خو مړنه شو
چې اخیستی دلـــونګو ځنګل اور و
چې سندرې یې په ســاندو کړې بـدلې
دومره پوه شوم یویې سور اوبل یې تـور و
په پښتو چـــې پښتنو پښتو ونکـړه
پښتونخوا ته د وختـــو دغه پیغـور و

www.sikanam.com

په کوځو کې اوس توتې، توتې پراته دي
چې په ليچو کې د کومو بنګړو شور و
د ګلونو او سرونو لويې ګډ کړ
چې بل چا لاس کې ورکړی ورته لور و
چې رنګونو او وږمو پکې اتڼ کړ
په يو وخت کې مو چمن ځنګه سمسور و
داخو مونږه په سوکانو ويلي کړی
دغليم دزغرو تن چې سوی سکور و
هغې هم زمونږ وطن په مونږه وران کړ
چې زمونږه تش په نوم مسلمان ورور و
ډيرې شپې دې کړې په ويښه راته تيرې
ځپه نه شي د دردونو په ما زور و
په بدل کې مې خپل تريخ ژوند ورته ورکړ
چاره نه وه د مرګي رابندې پور و
د کفن او شين سالو پرځای زړه سوانده
خپل شليدلی خر ځادر دربانديې خور و

د شيرپاو روغتون

www.sikhandam.com

# ساز او نیاز

ترینه پورته څه خوږه نغمه او سازشي
ورنږدې چې د رباب تارته شهباز شي
دغونېونه چې ګل جوړشي ورژیږي
په انجام باندې بدل هریوا غازشي
په بد رنګه غیږ کې ساه د ښکلا خیژي
واکمني دتورکارغه چې په سپین بازشي
تخیل کې شي غزله ترینه جوړه
په رنګونو کې چې تاو سوز او ګدازشي
دوصال ناوې راوړي دمیني کورته
هرمین چې د پتنګ په څېر سرباز شي
د ښایست خالق یې لا چې راته ګران کړ
رانه هیر به څنګه ستا دستر ګوناز شي
بې کفنه ارمانونه پکې ښخ دي
که زخمونه د زړګي مې چیري واز شي
په څیر، څیرکه شیخ د ګل موسکاوګوري
لږبه پوه د ژوندانه په راز او نیاز شي
دزړه سواند دقبر خوا کې ا شنا تیرشه
د رنځور زړګي نه جګ به مې اواز شي

جلال آباد - روغتون

www.sikarwan.com

# ناځي

د وږمو سیوري یې ستا په چارګل ناځي
کله، کله دې چې ګل په کاکل ناځي

دجونګړو د تیارو پسې رانه غلې
په بنګلو کې دې رڼا، شمعې تل ناځي

په ښایست یې درقیب کوځې شوې ښکلې
د بدرنګو بدرنګي په کابل ناځي

یو پښتون چې بل پښتون په کاڼو ولي
د خوشۍ ځپې په زړه د مغل ناځي

د توتیانو کډې لاړلې له بڼ نه
تور کارغان پکې په ځای د بلبل ناځي

ترینه مینې او احساس مې کړه لار بیله
له هغو چې هروخت ډول ته د بل ناځي

پاس د ستورو اتڼ ځومره ښه ښکاریږي
په مدار باندې د لمرځنګه خپل ناځي

که تیره، تیره اغزي او خزان لاړل
ستا راتلو ته به سپرلیه سنبل ناځي

د زړه سواند ددې رنځور زړه میلمانه دي
ستا یادونه مې ا شنا په ګوګل ناځي

www.sikaraam.com

# مرور

رنڤور زرەمێ لەجانان نەمرور دی

داخومینێ لەخێل ڤان نەمرور دی

تخنوێ بەدکوم بنێ دغوتێ شوندێ

نم دسترگود گریوان نەمرور دی

ستا دتلوسرەبێ خوب لەسترگولارە

هم لە تا هم لە هجران نەمرور دی

پلوشێ یێ برسبوێ چێ ورتەسترگێ

تور وربل دی لەپزوان نەمرور دی

جل وهلی، وچێ شوندێ، تزی، تزی

یوغاتول دی لەباران نەمرور دی

www.sikaraam.com

په اغزويې چې شهيد د چمن گل کړ

پسرلی نو له خزان نه مرور ی

د ظالم په سر راپرې نه وت يتيمه

او سيلي دي له اسمان نه مرور دی

د قلم پرڅای ټوپك لاس کې بل ور کړ

قلم دير له دغه ځوان نه مرور دی

د کافر په توره يو بل سره وژني

مسلمان له مسلمان نه مرور دی

چې د مينې وينې قدر يکې ورکو

زړه سواند ځکه له جهان نه مرور دی

www.sikaraam.com

# د لوديز

څاڅکي، څاڅکي چې يو ځاى شي (اباسين) شي
دخولو په پرخو خـــمه دالګبيرته شـــين شـــــــي

چې ا سلام يې له عمل نه کـــــوي کرکـــه
ورك دې دا سې تش په نوم باندې مومين شـــــــي

****

دا جهـــــــان به يې له فيضـــــه نوراني شي
د افغان هر يو بچى کـــــه (فيضـــــاني) شي

چې واكمن كله قاتل دخـــــــيل ملت شي
په وطن کې د سرو وينــــــــوا رزاني شي

****

ســــــره لعلونه مو دغرو غيـــــز کې ويده دي
پرې خبر ددې نــــــــــمرى وارولوى غله دي

چې په خيــــــلو کې يو بل په کانــــو ولــــــي
بل څوك نه دي خلكو دغه پښتانــــــــه دي

www.sikaradam.com

چې تېر کړې یې قول عمر غلامۍ کې

لټوي خپله خوښي، موبد مرغۍ کې

د هیچا به په هیڅ خوختې غلام نه شي

کوم ملت چې رالوی شوی خپلواکۍ کې

❁❁❁❁

د غمو باران په هغه قام را اوري

چې یو بل ته یې وګړې بد، بد ګوري

"خدای هم نه بدلوي حال د هغه خلکو"

چې یې غمې د بدلون پسې نه بشوري

❁❁❁❁

چې د سرې بلا نه خلاصه مونږ دنیا کړه

امریکا به زمونږ (سوبې) ته ګډا کړه

چې وطن یې اوس د اور لمبو کې سوزي

امریکا د غه غازي ملت ته شا کړه

www.sikardam.com

# څڼې

ګوتې وهي ورته سپوږمۍ څڼو کې
ويښې وږمې شوې د غوټۍ څڼو کې
چې پردې سترګې پرې ونه لګيږي
پښتنې پټه کړه خولګۍ څڼو کې
وريځول د ګران وطن د پيغلو
ښايسته ګلونه (سرې) سيلۍ څڼو کې
د اوږدو لارو د مزلونو دوړې
پرتې وې هروخت د کوچۍ څڼو کې
ګلان مو ټول ورته اغزي، اغزي شول
کله چې کيښودل روسۍ څڼو کې
روږدې ازاده غرو رغونو کې دي
مه زده غاټول وهي سالګۍ څڼو کې
(ناهيد) د مينې غېږ کې ويورې ورته
غنچې به زدې د ملالۍ څڼو کې
پکې نښلي تلوسې د مينې
مه جوړوه نورې کوڅۍ څڼو کې
زړه سوانده ستا د زړه دېنې ګلونه
مړاوي کړل ماته پرديسۍ څڼو کې

www.sikaraam.com

# څراغ

په تيارو مين په زړه د حسرت داغ ويمي

په رڼا مين تيارو پسې څراغ ويمي

وينه، مينه د زړګي مې په غوړ څڅک شي

چې پردي مې هر يو ګل ګله له باغ ويمي

چې يې وينې د بدن ترينه وڅښلې

دغه خوار به د رانه پيتهي ددې چاغ ويمي

لا تر اوسه مو نږه پوه په رقيب نه شوو

يا سرونه يا فكرونه له دماغ ويمي

له بل ځاي پسې اغزي راغلل زړه سوانده

چې ګلونه مو له بڼ او هم له راغ وړي

www.sikaraam.com

# د غزل پالنه

مرګه چې تا له حمزه ساه واخیسته
دا خو غزل نه تا ښکلا واخیسته

ته خو پښتو سره جنت ته لاړې
له پښتنو نه پښتو چا واخیسته

ته څوریدې، ځکه د برخو ویش کې
نورو خندا پښتون ژړا واخیسته

خوږه پښتو پرې ترخه لګي بابا !
خدای له رقیب (پوهه)، (حیا) واخیسته

چې جنازه دې له خیبر پورته شوه
غمو په سر نو پښتونخوا واخیسته

ستا د غزل او د ادب د دیوې
دا ستا بیلتون له موږ رڼا واخیسته

شمله یې هسکه د شمشاد غوندې وه
درنه پګړۍ مې لاس کې ستا واخسته

دهنر بڼ دی له خیبر نه جوړ کړ
یوه غوټۍ د ګل ترې ما واخسته

په رنځور زړه یې را وریږي مینه
زړه سواند چې ستا ښکلې وینا واخیسته

www.sikurdanm.com

# غــــج

پریږدۍ چې هرغــــم په کانـــــوولم

دلــــــــــه هر ســـــتم په کانـــــوولم

داسې وخت به راشي چې رقیب به مې

زه دخپل صــــــــــنم په کانـوولم

خومره به خوشال شي شیــطانـــي نظر

زوی کــــــه د ادم په کانــــــوولم

نه رغیږي لا پســــــــــــي تپې شـــــولو

زړه مې که ملهـــــم په کانـــــوولم

رابه شي ســـــــپرلی خزانه کله چې

ستا ســــــــــیره قدم په کانـوولم

www.sikaraam.com

وابه خلم رقيــــبه د خپل کلي غنچ

ستا به کـــــلی چم په کانو وولم

نه باسي انځور د فرعونانو کــــــه

بيا به مې قلم په کانـــــــوولم

کاشکې هر ظالم مظلومه ستـــا مخکې

څـــومحلی زه ســـم په کانو وولم

لا رې به شي لمـــر ته د رڼا پيغلــــې

کله چې تورتــــم په کانـــــوولم

تيټ که شوې تنديه ! بيـادی رُوند شمه

تا که چيرې کــــــم په کانو وولم

خاندي به زړه سـوانده د خوښی ناوې

څه وخت چې ماتـــــم په کانو وولم

www.sikaraam.com

# شملې

ګل دښمنه چې هرګـــــل په کانو ولې
دا خو مینه دبلبــــــل په کانو ولې
د احساس اوعقل سترګې دې ړندې دي
د پردو له پاره خــــپل په کانو ولــې
کاشکې غوځ دې شي مړوند کې دا لاسونه
دخپل بڼ ګلان دبـــــــل په کانو ولې
انتقام د کیوناري مکنــــاڼن اخلې
چې ښایسته، ښکلی کابـــل په کانو ولې
تا خو تش په نوم پښتونـــه پښتون ویشته
ماوی ته ګوندې مغـــــل په کانو ولې
چې دتا غوندې بې سرتیــت نه کړ بل ته
دهغو دننګ ګوګـــــل په کانو ولې
د ښایست او پښتـــــني مینې قاتله
لوېتې، شملې، کاکـــــل په کانو ولې
چې محوریږي او کـــړیږي په وطن خپل
د زړه سواند مینـــــه نو تل په کانو ولې

www.sikaraam.com

# چینه

د غم پېټی مې په شادي
د غرمو ګرمۍ وهلی
ددې دښتو له مزلونه
ستړی، ستړی ورته راغلم

❁❁❁❁

د چینې په غاړه ونه
اوس لغړه وه ولاړه
چا یې پاڼې وې تویږلې
ددې هم وچا سېزلې

❁❁❁❁

ددې بورې زخمي ونې
هغه شين سيورې به چېرته
بيا په سترګو وګورمه
بيا به چېرته ورته کښېنم

❁❁❁❁

چې چينې ته ورنږدې شوم
د چينې د سترګو اوښکې
په سرو وينو کې وې پټې
د چينې په غاړه ونه
اوس لغړه وه ولاړه

www.sikaraam.com

# زړې

را زرغون چې شي چمن کې د ګل زړي
په اغزو مين يې پرې کړي په لـــــور غړي

چې د مرګ سيوري په ژوند د هر چا وشـي
ترينه پاتې ارمانونه شي نيمګـــــــړي

سرو او تورو يې د چمن ګلونه يـــــــوړل
د دې کلي خلك ټول وه خوبـــــــه وړي

نور د زلفو په وږمو مخنـــــګوي مينـــــــې
مونږ د ملا پورې تـــــړلي د اور پــــــړي

چې تور داغ يې د تاريخ په تندي کېښــــود
کاشکې نه وای دې وطن کې دا وګـــــړي

www.iblKadam.com

چې له ستورو یې امیل جوړاوه تا تــــــه

دا رنځور زړګی مې خاورو کې اوس رغړي

چه څه وایې دوی یې نه کوي پخپلـــــه

دې تور مخو غولولي ډیر سپـــــین زړي

داسې ژر، ژر مې دعمر شیبې درومــــي

لکه څنګې د سیلاو مخې نیـــــزه وړي

زړه مې تا سره شي پاتې بې زړه راشـــم

دا زما په مینې ستا مینې څه کـــــړي؟

د زړه سواند پسې یوه اوښکه توې نه کړېء

ژوندي شوي په ژړا دي کله مـــــړي

www.sikaream.com

ماته دې راوړلو اجل سترګوکې

ن دې چې ګورمه کجل سترګوکې

راته هرګل هرې غوټۍ کې ښکارې

ستا د ښکلامې دې منزل سترګوکې

دانګو په ایینه کې دې زه

وینمه هروختې وربل سترګوکې

دا رنځور زړه مې نا علاج زخموته

غواړي اشناله تا درمل سترګوکې

ته سند ریزه دې اداکړه ګلې

زه به دې ولیکم غزل سترګوکې

www.sikaraam.com

چې مې ارمان په زړه کې پاتې نه شي
څه راته ووایه یـــــوځل سترګوکـــــــــې

دا ټول جهان شي راتــــه مینــه سبا یست
ستا انتظار چې مې شي مل سترګوکې

شــــــه کلیــــوالـــــه او ساده پښتنه
راســــره مــه کــوه نـــور چل سترګوکې

شي زولنې زما د خـــــوارې مینې
دا ستـــــــا د ښو مې هر ول سترګوکې

چې یې لــه کورنه سرې کاندې ګورته
د زړه سوانـــــــــد ګرځې دا مزل سترګوکې

جلال آباد-روغتون

www.sikaraam.com

# رنګې سندرې

بیګاه مې خوب کې بیا یو خوب ولیده
د نورو شپو له خــــــــوبو
دا ډارونکی و ډیـــــــــــــــر
زمونږ د کلي یه بـــــــــــام
وي د کارغانو اتـــــــــــڼ
توری بد رنګې ښــــــــیرې
وږني شکلا او مینـــــــــــه
شړي کوترې له بــــــــــام

oooo

بیګاه مې خوب کې بیا یو خوب ولیده
د نورو شپو له خوبــــــــــو
دا بوږنوونکی و ډیـــــــــــــر
ژبه ګونګې وه بیخـــــــــــي
بس د سندرو نغمـــــــــــــو
ساندې راتلې مې غوږ تــــــــه
غونی مې زیږ شو ورتـــــــــه
ستونی مې غریو ونیــــــــــوه

oooo

بیګاه مې خوب کې بیا یو خوب ولیده
د نورو شپو له خــــــــوبو

www.sikaraam.com

دا غمرلی و ډیـــــــــــــر
دی سرو او تورو غمـــــــــو
دوارو خوړلی یو ځـــــــــای
زمونږ د زړونو غوښـــــــــې
oooo
بیګاه مې خوب کې بیا یو خوب ولیده
د نورو شپو له خوبـــــــــو
دا اسکیرلی و ډیـــــــــــــر
هسك ته لوګي شول پورتـــــــــه
ځو نامراده پیغلـــــــــــــو
چیغې نارې وهلـــــــــــــې
ای په ښایست مینــــــــــــو
ددې لونګو ځنګـــــــــــــل
خدایزو چې اور اخیستـــــــــــی
oooo
بیګاه مې خوب کې بیایوخوب ولیده
د نورو شپوله خوبـــــــــو
دا دردوونکی و ډیـــــــــــــر
زمونږ د کلي مخکـــــــــــــې
اوښکې او وینـــــــــــې دواړه
ویالې، ویالې بهیـــــــــدې
ورته خندل به زمونــــــــــــــز
د ارمانونو قاتـــــــــــــــل

www.sikaraam.com

# د اوښـــکو ډیــوې

که اغزي د ګل ښکلا ته خړ، خړ ګوري

ستا جفا زما وفا ته خړ، خړ ګــوري

د ساقي نه چې ډک جام شو ور ته پاتې

دا زاهد خپلې ریا ته خړ، خړ ګوري

ته خوښي پرې خپله لمانځې، زه غمونه

ستا خندا زما ژړا ته خړ، خړ ګوري

چې د کبر جام یې مونږ ور ته نسکور کړ

هغه اوس ټولې دنیا ته خړ، خړ ګــوري

توکوي ور ته تاریخ پر مخ توکانــــي

د ملت قاتل هر چا ته خړ، خړ ګــوري

چې د نور و له ګریوان یې ســـر راووت

هم به نن هم به سبا ته خـړ، خړ ګوري

زمانې یې چې نقاب کـړ له مـــخ لیرې

ګناهګار ناصح ګناه ته خړ، خړ ګوري

چې زمونږه په سرو یې لوبې وکـــړې

کله ما او کله تا ته خړ، خړ ګـــوري

ستا په وینو یې لاسونه مینې سره کړل

یو اشنا به بل اشنا ته خړ، خړ ګوري

د جنت غوندې وطن یې چې دوزخ کړ

کله مخکې کله شا ته خړ، خړ ګوري

زړه سواند بلې کړې دیوې د خپلو اوښکو

پـــه تیا رو مین رڼا ته خړ، خړ ګوري

# [illegible]

ځيني کلي او وطن ته کتی نشي
څوك د پلار نيكه مدفن ته کتی نشي

چې خپل کور يې د بل چا په امر وران کړ
دا بې پت اوس دې دښمن ته کتی نشي

توکوي پرې (ملالۍ) او (ناهيد) لا ړې
هر بې ننګه اوس پتمن ته کتی نشي

قتلوي چې نن ښايست ، مينه ، هنر څوك
دوی به ګل ، بلبل ، چمن ته کتی نشي

د قدرت ليونو ټول ټپي ، ټپي کړ
د کابل زخمي بدن ته کتی نشي

دا لندن او مسکو دواړه تل ملته !
تا اتل او تا سوبمن ته کتی نشي

چې د نورو شو غلام زمونږ قاتل شو
د خوارانو ځنکندن ته کتی نشي

چې بې قدر وور ته زړه داسې رنځور کړ
د زړه سواند به سپين کفن ته کتی نشي

www.sikuraam.com

# لاسونه

مینې ! دا ستا ددې دښمن لاســـــونه
پرې کړي د ښکلي ګل د تن لاســـــونه

پرخې ترې پوښتي چې دا چا غوځ کړي ؟
تنکی ! غوټۍ ستا د بدن لاســـــونه

اوس ښکلوي پردي لاسونه هـــــر وخت
چا چې مات کړي د وطن لاســـــونه

خیرات ذکات نه پریږدي خوار غریب تــــه
تا یې چې مچې کړه خیرن لاســـــونه

چې د هنر , فرهنګ ګلونه سیـــــزي
شل به شي دغه اهریمن لاســـــونه

نشي نیولی اوس وزمې په غیز کـــــې
زخمي , زخمي شول د چمن لاســـــونه

و تخنولي ددي ستورو رڼـــــا
په زلفو ستا زدم ماخوستن لاســـــونه

ژونده کومه مخه ښه در ســـــره
جلګ کړل چې ما په ځنکدن لاســـــونه

چې د زړه سواند سلګۍ دې ونه لیـــدې
نن یې نومه زده په کفن لاســـــونه

# د کابل ښکلي

د پښتو مې دا تناکې اوس د ټول عمر پنــــــــــې دي
د وخت سندره نه اورې په غوږو ، مزلو اکنـــــــــې دی

سنا په سرو ، سرو اننګو مې ترمې اوښکې ځکه توی کړې
پردیس خوب کې مې لیدلي د کابل ښکلي منــــــــې دي

د ملر وړانګې يې وچښني چې سهر وړپسې راشــــــــــي
پرتې پرخې په ګلاب رنګې (په اننګو) ، رنـــــــــــــــې دي

څوغوټې مې شوې له ستر ګو هلته وړاندې پدې بڼ کـــې
ماوی دا زموږ د کلي ، ښا پیری وارمه کنـــــــــې دي

څو بدرنګو څوبې قدرو له غریبو حسن واخســــــــت
خو وړکړي يې زړه سوانده څو داني ترخې چنـــې دي(۱)

● د صنوبر کاکاجي بیت ته اشــــــــــاره

پښتور – شیرپاو روغتون

www.sh[illegible]am.com

د ملي او علمي شخصيتونو په ياد:

# هسک سرونه

زموږ د بڼ ګلونه بل وطن کې خاورې کېـــــــــــــــــــــــــزي

د پيغلو وربلونه بل وطن کې خاورې کېـــــــــــــــــــــــزي

چې لمر او سپوږمۍ دواړه يې ليدو ته ځلېدلـــــــــــــــــو

همدا ښايسته مخونه بل وطن خاورې کېـــــــــــــــــــزي

چې خاوره د خپل کلي ورته ښکلې له رنځـــــــــــــــــــو وه

دا ميني او دا زړونه بل وطن کې خاورې کېـــــــــــــــزي

د پوهې ډيوې مړې شوې ، د ادب د پتنګانــــــــــــــو

فکرونه ، قلمونه بل وطن کې خاورې کېـــــــــــــــــــزي

وږمې يې ويښولې د تنکۍ غوټۍ په زړه کـــــــــــــــې

نن دا خوازه غږونه بل وطن کې خاورې کېـــــــــــــــزي

www.sikaraam.com

وطنه ! په تورتم مین نخا کړي له خوښی نــــــــــــه
چې ستا بل مشالونه بل وطن کې خاورې کیـــــــــــبزي
هنر او تخیل یې د سایست تصویر ایستلــــــــــــو
ارمان چې دا لاسونه بل وطن کې خاورې کیـــــــــــبزي
د خپل وطن نه لیرې د قاتل غلام دلاســــــــــــه
له ننګ جوړ بدنونه بل وطن کې خاورې کیـــــــــــبزي
رقیب مو د خوښی سند رې وایي ورته ځکـــــــــــــه
ملي لوړ ارمانونه بل وطن کې خاورې کیـــــــــــبزي
وزمې یې ویسبولی د تنکی غوټی په زړه کـــــــــــې
نن دا خوازه غزونه بل وطن کې خاورې کیـــــــــــبزي
چې ( سرو ) او ( تورو ) دواړو ته زړه سوانده هیڅ تیټ نه شول
اوس دغه هسک سرونه بل وطن کې خاورې کیـــــــــــبزي

www.sikaraam.com

په مرګي مې د هر ګل داسې غزل مــــري
لکه کله چې مین په تور وربل مــــري

لتوي به مې په کومو خړو دښتــــو
د مزلونو ستړي ليرې له منزل مــــري

د رقيب د پښو دوړې پرې پرتـــې دي
د ليمو نظر مې څکه ستا په پل مــــري

اوښکې غسل د بڼو لاندې پټ ورکــــړي
تورو سترګو کې د پيغلو اوس کجل مــــري

ددې بڼ پيغلې غوټۍ شوې له نظـــــره
پاڼې ، پاڼې شوې دا ټولې په يو ځل مــــړي

پريښتې يې جنازه وړي تر جنتــــــــه
د وطن لپاره څوك چې په مورچل مــــري

چې د مينې ، وينې ، اوښکو بې قدري شــوه
د زړګي ارمان مې مخکې له اجل مــــري

فيصله ددغه وخت د بزرګ ګــــــوره
د لوټ شوي کور څښتن پر ځاى د غل مـري

نه يې څمکه نه يې سين مني اوس مــــړي
د ملت او د وطن د قاتل مل مــــري

ساندې مه بوله سندرې ورته وايـــــه
که زړه سواند دې اشنا چيرې په درشل مـري

www.sikeraam.com

# جرګه

مینې! ته چې جرګه وکړې اشنا ګرم شي
له وربل یې مرور ګل د شرم شي
ته به خپلو زلفو سر کیږدې ویده شې
دا غمونه ټول زما زړه ته ارم شي
که زوزاد یې یو د بل وینې توی نه کړي
ترې خوشاله به حوا او هم آدم شي
ددې خپل نرګس غاټول رنګونه هیر کا
ویر چې تم څوك دپردیو په کلي چم شي
تور دیوان چې ښاپیرۍ کړي ترې پردیسې
څومره ترخ څومره بد رنګ هله حرم شي
څه رازونه د ښایست به غیږ کې پټ دي
د غوټۍ موسکا زخمي ګل ته ملهم شي
د زړه سواند ګناهګار زړه که و بخښې ته
خدایه! څه به نو ستا کم په دې کرم شي؟

جلال اباد ـ روغتون

www.ketabton.com

# بې شعوره

دا بد رنګ، پیکه وختونه، نه بدلیږي
که زمونږه تقدیرونه، نه بدلیږي

د ګلونو امیلونه پیغلې غواړي
اوس خو دلته موسمونه، نه بدلیږي

د بدلون په چل یې مونږه نه پوهیږو
په خوښۍ زمونږ غمونه، نه بدلیږي

غولوي سنا بندګان چې پاکه ربه!
ورته وایي نصیبونه، نه بدلیږي

که غوټۍ راته اتڼ وکړي بې کسې
د احساس ناسور زخمونه، نه بدلیږي

قلم مات شو، کتاب وسو، دیوه مړه شوه
د تور بخو بد نیتونه، نه بدلیږي

چې یو بل ته یې وهي ور باندې مینه
ددې ستورو سترګکونه، نه بدلیږي

چې په وینو باندې وینې مینځل کیږي
زما هم دا شعرونه، نه بدلیږي

د ژوندون په چمن زمونږ د بد نصیبو
د مرګونو ګوزارونه، نه بدلیږي

تا خالونه، بنګړي څو ځلې بدل کړل
د زړه سواند د زړه داغونه، نه بدلیږي

www.sikaraam.com

# تقدیر

اوښکو زما په کریوانه لیکلي
چې مې تقدیر په تندي څه لیکلي
له خیا سره دې اننګي شو هسي
ما خواشنا در ته خوازه لیکلي
ستا د ښکلا څوا نګورونه دي ما
د ګل په پرخو په پاڼه لیکلي
د زړه په وینو دې زما قلمه
د بدو , بد د ښو دې ښه لیکلي
دا تش په نوم زاهد پرې څه پوهیږي
چې راته مینې څه په زړه لیکلي
سوروولیدمه چې غزلي د شپې
تا ته په نم مې د لیمه لیکلي
د مجبورۍ نه مو خپل بڼ پرېښوده
ګل او غوټۍ دغه چې تله لیکلي
ترخو وخو مې د زړګي دپاسه
د غم په ګوتو ډیر ترخه لیکلي
دا ډیر غمونه په زخمو د وطن
څه ور ته (تور) څه ور ته (سره) لیکلي
دا ستا جفا زما وفا وګوره
زما هر سم ته تا کاږه لیکلي
دا نور خو پریږده په دفترکې پښتو
ګله په تا خپل پښتانه لیکلي
زړه سواند دي (هو) چیرې وانه وریدله
چا دي په ژبه در ته (نه) لیکلي

www.sikaradam.com

# کیسې

د غمو تورې شپې دې کله ځي کله راځـــــي
ژونده ستا ترخې شيبې دې کله ځي کله راځي

زړګیه! راته مینې , تلوسې قتلـــــوي دواړه
څه قاتلې وسوسې دې کله ځي کله راځـــــي

خوښي راځنې يوسي او دردونه راتـــه راوړي
د وختونو حادثې دې کله ځي کله راځـــــي

چې خړ , خړ ورته راګوري د پردیو غلامانـــــو
شاړې کړي دا کوڅې دې کله ځي کله راځـــي

د پیغلو وربلونه د زلمو شملې سوزيـــــــزي
د اورونو سرې لمبې دې کله ځي کله راځـــــي

د زړونو دا کعبې مو ورانوي دا ريا کارچـــــې
ربه ! لاس کې يې تسپې دې کله ځي کله راځي

د زړه سواند د زړه زخمونه څوروي او پخــــوي
د ځوانۍ د وخت کیسې دې کله ځي کله راځي

www.sitaraam.com

# غم نس

چې دا ستا له ښکلي ، ښکلي نظر پر بوخم

د غمونو د سکرو تو په غر پر بوخم

لکه پرخه ترې اغزي مې کاندي پورته

په هر ګل باندې چې کله سهر پر بوخم

ستا يادونه کړم د اوښکو ډيوې بلې

تورو شپو کې چې د غم پر بستر پر بوخم

وايم چيرې به دې شرنګ د ګونګرو واورم

د ګودر په غاړه زړه مازيګر پر بوخم

دا سجدې ته ديه زړه له چا نه نه کېږي

خداى دې نه کړي چې د هر چا په در پر بوخم

ستړې ، ستړې او بدرنګ خوبونه ګورم

چې د يار له غيږې ليرې بهر پر بوخم

د زړه سواند نه دې بيا مرګ خير دې شوند واخلي

خو يو ځل دې ستا د زلفو پر سر پر بوخم

جلال اباد ـ روغتون

www.sikaraam.com

# زړې نغمې

لارې د کوچانو د ایلبند په لور چې کـــــږې شي
یوځای سره ځي ښایسته بد رنګې ګـــډې وډې شي
مونږ خو شپه او ورځ پرې ستړي ، ستړي دامزلونه کړو
ګنی د غمو به دا اغزني لارې لنډې شــــــــي
راشي دا ( رمې) د وسوسو او اندیښنو ټولــــــــې
پاتې شي اوزدې مې د زړګی غولي کې پنډې شــــي
نن چې د جنت او د دوزخ خبرې کړي راتـــــــه
ماته یې رایادې د پرون ورځې نو بدې شــــــي
سیوري ته یې نه توروې سترګې ښاییری خپلـــــې
دا د مهو ونې به زمونږه د باغ شنډې شـــــــي
لوبه چې د جنګ زمونږ په ملك کې توده ساتي څوك
وخته ددې روس غوندې به دوی هم ونډی,ونډې شي
پټ مې د ملت له قاتل ، غوږ کې راته وواېـــــه
څومره به دغم شپې دې وطن کې نورې څنډې شي؟
دا چې مین زړونه او ښکلا مونږه ته وژنـــــــي اوس
دا تورې څیرې به هم یو وخت خدایږو بربنډې شي
ستا د غزل ناوې به زړه سوانده ورته ناځي بیـــــا
بیرته به وزمې ، نغمې تالا بڼ کې راغونډې شــــي

لواړګی. پښتونخوا

www.sikarwam.com

# ګل

زما د مينې به کتاب شي خاورې ، خـــاورې

د اننګو که ستا ګلاب شي خاورې ، خـــاورې

که ساقي پرې پخسوي دا وچې شونــــډې

دا ډک جام دې د شراب شي خاورې ، خاورې

د نغمو قاتل يې مات کاندي په تيــــزو

نو توتې ، توتې رباب شي خاورې ، خـــاورې

هديرې کې د زړګي به مې يو وختــــې

د اشنا دا تريخ ځواب شي خاورې ، خـــاورې

خدايه ! ګونګه د ناپوه واعظ کړې ژبـــه

د وبال پر ځاى ثواب شي خاورې ، خـــاورې

د اغزيو که واکمني وي پرې همداســـې

هر يو ګل به په عذاب شي خاورې ، خـــاورې

د زړه سواند مينه به ورکه کانــــدې لاره

ستا د وريځو که محراب شي خاورې، خاورې

www.sikaraam.com

# مراندې

سور سالو دې په ما خور کړه چې ساړه دي

د احساس مراندې مې غوڅې په چاړه دي

د خوښې سوال مې هيڅ نه کړي ارمانونه

په غمو نو او دردو باندې ماړه دي

په يو سات کې مرور بل کې پخلا شي

پرښتو غوندې سپيڅلي دا واړه دي

پکې نښې د وفا او مينې نشته

دا لوظونه دي اشنا هغه زاړه دي

وخت يې داسې پرهرونه ميلمانه کړل

د زړه سواند د زړګي وينې يې خواړه دي

**جلال اباد . روغتون**

www.sikaraam.com

# د وطن په یاد

چې ځواني او خوږ وطن مې را په یاد شـــي
له پردیس زړګي نه پورته مې فریاد شـــي

چې وزمې دا ستا د زلفو دلتـــــــه راوړي
کاشکې پیښ راباندې دغسې یو باد شـــي

خدایه ماتې د غمونو پنجرې کـــــړې
چې طوطي می د احساس ترینه ازاد شـــي

نه پوهیږم دا به څرنګه ښیــــــــې وي
رانه هیر مې چې زخمونه د هیواد شـــي

خوبه وړي ښتانه چې پرې راویښ شـــي
داسې غز به چیرې پورته له شمشاد شـــي؟

چې د سرو لښکرو ماتې خوب کې ګـــورم
دا خپه , خپه ارمان مې بیرته ښاد شـــي

ویر ماتم چې راولي زمونږه کور تــــــه
دادوست په نوم غلیم مو دې برباد شـــي

مینه سیوری پرې د پیغلو د وربل کـــړي
چې په خوی خوك د مجنون او د فرهاد شي

چې غوټۍ وایې سندرې ګلان ناخـــــي
کلی چم دی زمونږ ټول داسې اباد شـــي

دا تیارې او تورتمونه هله درومــــــــي
که زړه سوانده ستوري ټول په اتحاد شـــي

برلین .المان

www.sikaraam.com

# د لونګ ځانګی

چې د پېغلو نه مات شوي پړی منګــــي دي
دا چینې ږمونږ د کلي د تنګـــــــي دي
پریکوي پړې د لونګو تنګې ځانګـــــــي
د ښایست د قاتل لاس کې تبرګـــــــي دي
ځنګه ځړ , ځړ اوس راګوري دې چمـن ته
چې غلا کړی یې د ګلانو ترې نیالګـــي دي
نور ځې مخکې مونږه شاته بیرته درومــــو
پر مونږ کړي دا کاڼې تل پرنګـــــــي دي
د ښکلا او رڼا زړونه ترې خپـــــــه دي
چا غوټۍ , پیوې وهلي په لرګـــــي دي؟
د اغزیو وربانديې ځکه واکمني شـــــــوه
دا سنایسته ګلان په خپلو کې جنګـــــي دي
چې زخمونه مې د زړه نه پریزدي خوب ته
دا خو ستا د ښکلي مخ سره اننګـــــي دي
هر یو درد او هر یو غم به مې یتیم شــــــي
دا ورېې , ورېې سلګی مې د مرګـــــــي دي
د غوټۍ او د ګل زړه نه سوي بڼ کـــــــې
پورته شوي د وږمو پرځای لوګـــــــي دي
پکې ستا د جفا نښې ښکاره کیـــــــــزي
کوم داغونه د زړه سواند چې په زړګـــي دي

www.sikaraam.com

# د اوښکو پرخې

پر سکروټو دې پرتې د اوښکو پرخې
څکه شوې لمبې ، لمبې د اوښکو پرخې

دې تالا ، تالا چمن کې یې اوباسي
څه سرې ، سرې توبې د اوښکو پرخې

که موسکا دا ستا رشونړو ښکله نکړي
نه مني دا ستا وعدې د اوښکو پرخې

غړبوې یې دا بدرنګ تیره اغزي اوس
چې کړې ډکې دا پیالې د اوښکو پرخې

نن خو ستا سرو اننګو کړلې پرې ماتې
سبا نیسي مې روژې د اوښکو پرخې

د لمر د پلوشو به سرې ډولۍ کې
چیرته وړي به دا وږمې د اوښکو پرخې

دوزخي به چې رقیبه تا بللي
کړي جنت کې مې سجدې د اوښکو پرخې

د اشنا د وربل ګل ته څوږې مینې
په بڼو زما ساتي د اوښکو پرخې

پریمنځي زړه سوانده ستا د ارمانونو
رنګې شوې هدیرې د اوښکو پرخې

(۶) براك

د یو پردیس (بلبل) او یوې پردیسې (بلبلې) دزړه اواز :

# خوږې

دي پرتې مو پر مخونو خــــړې دوړې
د اوږدو سترو مزلونو خـــــړې دوړې
خدایزده وي به ددې کومو سپیرو دښتو ؟
وړو راوړو په ګریوانونو خــړې دوړې
د وطن نه د پردیسو ډیرو نـــــاوو
وړې تورو , وربلونو خـــړې دوړې
بوړبکی د اوسیلیو مې هدیـــــروکې
کړلې پورته له قبرونو خــړې دوړې
په کوڅوکې ویښې کړي دي له خوب نه
نیمه شپه مونږ په ګامونو خـړې دوړې
له بمو سره له ځمکې نه شي پــــورته
راپریوځې پر بامونو خـــړې دوړې
د کابل د ښاپیریو , ښاییریو پیغلـــو
ښکلوي اوس شنه خالونه خـړې دوړې
ددرملو پرځای ځنګه د بیوزلــــو
راوریږې پر زخمونو خـــړې دوړې
په پردې وطن کې یې ګــورم ورته ژاړم
ستا د زلفو په سرونو خـــړې دوړې
قاتلانو مو د ژوند چمن تـــه راوړې
د جنګونو او مرګونو خـــړې دوړې
هر سهار چې پریمنځلو رنو پـرخــو
نن پریوتې پر ګلونو خـــړې دوړې
کله , کله چې له لیرې ورته ځیر شـم
راته ښکارې مې په غرونو خـړې دوړې
اړولي دي مرګې پرې څومــره ډیرې
دزړه سواند په ارمانونو خـړې دوړې

جلال آباد ـ روغتون

# رنګونه

چې په ګلونو کې رنګونه کـــرم
تا ته خالونه ، امیلونه کـــرم
ستا انتقام له رقیب اخلم اشنـــا
ورته هر ګام لاندې اورونه کـــرم
هر ما زیګر خمه راځمه ورتـــه
په ګودرونو مې ګامونه کـــرم
چې هر خل راشم ورته کله اشنـــا
ستا سو کوڅه کې ګرېوانونه کـــرم
پام کوئ تېزي د رنه نشي اوښکـــو
بیا په لیمو کې حسرتونه کـــرم
که مې دا خوار نصیب بدل نه کـــړمه
ځانته به هر وختې غمونه کـــرم
مه تولوه خیاله لمن د غـــزل
یکې د مینې تصویرونه کـــرم
د ملت مور وایي په غیزکې به څـــو؟
بچیو! دا ستا سو ډېر قبرونه کـــرم
مرګیه تم شه د زړه سواند په زړه کـــې
بوڅو نیمګړي ارمانونه کـــرم

www.sikaraam.com

# زیږی مازیګر

ستا دي قسم وي په زیږي مازیګر
چې له ما مه یوه مخ په ګودر
تاته مې جوړ کړ د ګلاب پړانو
انځور په اوښکو د خپل زړه د پرهر
زه بې ګلنه ښخ شوم بل وطن کې
ستا مبارک شه د خپل کلي اختر
جوړ به ما ښام شي ستا د تورو څڼو
که دي سالو لیرې یو وار شي له سر
دا ستا ښکلا زما زاري به یو وخت
دوا ره شي تیر لکه یو ستړي نظر
له پښتنو راته کیلي ګرې اټک
چې (اباسین) ته شم ورتیر له خیبر
ژبه یې نه زده د وږمو او نغمو
نه مني (دوی) مینه, ښایست او هنر
ربه! له موږ چې ستا یرزو پېړوي
اوس راته هغه دي ولاړ په ممبر
که د تیا روا ستا زي لاړ شي ترینه
زموږ جونکړو ته به راشي سهر
دا ننګو احسان دې مه کړه په ما
زه یې چې ګوډم پلوشو کې ډلمر
بیا به یې ستړګو باندې ونه ګوري
زړه سواند دی لاړه له کوڅې مرور

**اټک ـ پښتونخوا**

# کچکول

راته وايي چې مې سر باندې سور شال وړم
دا خو زيرى اشنا تا ته د وصال وړم
د وربل گل دى چې مړاوى چيرى نه شي
ور ته اوښکې په ليمو کې هر مهال وړم
کاږه گوري د پښتون هسکې شملې ته
د مغل ښېې به توره د خوشال وړم
دا د مينې کوڅې څنگه شولې شاړې
بې ديد نه ترې خالي کچکول د سوال وړم
چير ته ليرې ستا له څنو نه گبردونه
د زړگي د اوسيلو په شمال وړم
ته پرې نوم د ثواب کيږدې شيخه ويې ښې
زه به ويره خو په زړه کې د وبال وړم
چې شين خال دى لکه ستوري و ځليږي
له تندي نه ځکه ستا د زلفو تهال وړم
چې په قبر دې زړه سوانده را زرغون شي
دا غاټول د کلي پېغلو ته هر کال وړم

www.sikaram.com

# ډېوه مړه شوه

ما تيارو ته کړله بله ډيوه مړه شــــوه

رڼا ته د غسې څو ځله ډيوه مـړه شــــوه

پتنګ رڼا غی اوس کوي ما نه پـــوښتنـــه

په جونګړه کې مو کله ډيوه مړه شـوه

چې سيلۍ په مخ څپېړه ورته وړکـــــړه

له محفل نه چې وتله ډيـــــوه مړه شـوه

بيا د اوښکو څو څاڅکي مې پرې توی شول

چې ليکله ما غزله ډيوه مړه شــــوه

له شهيد وارمانو مې تپـــوس وکـــړئ

دا زما د ژوندنو ځله ډيـــــوه مړه شـوه

چې څپه پرې ستا د زلفو د ټال راغـــــله

په سلګو، سلګو کې هله ډيوه مړه شـوه

اوسيلي د زړه سواند مه ګرموئ خلکـو

څنګه دنني شو پخيله ډيـــوه مړه شـوه

www.sikaraam.com

# زوړ

یمه پښتون په ما یې زوړ نه رســـــي

ماته گوزار د رقیب نور نـــــه رســـــي

نه مې شرنگیږي زولنې پښو کې

غوږ ته مې ستا د بنگړو شور نه رســـــي

سبا یې گوره چې سیزي دې کنــه

نن مې لمبې درته داور نه رســـــي

قاتل مې لاس راته په خولې ایښـــی دی

چې اوسیلي مې ستا ترکـــور نه رســـــي

دا ستا د مینې جنازې ته ښــــکاري

زړگیه ستا د سترگو تــــــور نه رســـــي

اوښکې مې وچې کړې په خپلې شملې

ورته مې لاس د خوږې مور نه رســـــي

چې یې قدم په قدم غلـــــه واړوي

منزل ته څوك په هغه لور نـــــه رســـــي

د گل وږمې تیرواغزو کړې تــــــالا

زړه سوانده ستا ترکلي کور نه رســـــي

# امیـــــل

شوې مې له تانه مرورې اوښکـــــې
امیل دې نه کړي مرغلرې اوښکـــــې
راته مې مینځې پرهرونـــــــه د زړه
نورې مې نه وایي سندرې اوښکـــــې
داچې اوس غواړي دهرګل نه خولګې
داستا ښکلامې کړي سوالګرې اوښکـــې
ځاله یې ړنګ بچي یې نه وه پکـــــې
ورباندې توې کړلې کوترې اوښکـــــې
مونږه یې مات کړدعمرونو غـــــرور
تویوي څکه سرې لښکرې اوښکـــــې
هومره نصیبه اوس بد مرغه شولـــــې
څومره چې وې مې بختورې اوښکـــې
زخمي، زخمي شوې پراغزو پریوتـــې
زړه سوانده چا دې کړې اوترې اوښکې

www.sikandam.com

# دکوڅې ول

چې تنکی، سنکلی ډنډ ریې ورته بڼ کې سیلې مات کـــړي

ګل په خاوروکې راپریوزي خپل تندی پرې غوټې مات کړي

خدای دې تورې، تورې څڼې ماښام لیرې کړه له مخ نـــــه

چې داستاخویوځل ستر ددې سنکلي خولګی مات کـــړي

دغمونو په ګوزا رمې هسې زړه تپې، تپې شـــــــــــي

لکه راشي تیره غشي او وزر دمرغۍ مات کــــــــړي

ای په خپل حسن مغرورې او سیلي مې درېســـــــې دي

ګوندې وي چې دې غرور ددې سنایست او ځوانی مات کړي

دسپرلي ګلان دې ځکه په وربل کې زړه سواند نــــه زدي

زړه یې ریږدي چیری نه چې دې هر ول دکوڅې مات کـــړي

www.sikaraam.com

دا روانښاد محترم عبدالحکیم(مهر) په یاد :

# ګردونه

کله چې لوړ مازیګر
دغرو په هسکو څوکو
ښکلوي لمرپه شونډو
پاس دوموانو ځانګی
دیوې شیبې له پاره
راشه زما قبرته

یو دمزلونو ستړی
یوه بې کوره پردیس
زما دقبرپه بام
ایښې دګلو غنچې
په دې ګلونوباندې
پرتې داوښکوپرخې

زما د وران شوي قبر
په خړې پړې شناختې
یو زړه سواند لاروي
یوله خپل ژوند مرور
دخپل زړه په وینو
راته لیکلي داسې

"قبر سوری کړه حال مې ګوره
په خمارو سترګومې پریوتل ګردونه"

www.sikaraam.com

# دام

لوند په اوښکو مې داستا د زلفو دام شو
چې داستا خیرې ګریوان ته زما پام شو

پاڼې، پاڼې به یې چیرې وړي باد ونه
په چمن کې نور د ګل عمر تمام شو

غوټۍ تا ته چې درته اغزو زخمي کړ
وینې، وینې د بورا هر یو اندام شو

د پاولو او د ښنګرو شور دې کړه پورته
هیر د مینې د کوترو نه ستا بام شو

تا چې څڼې را خورې په اننګو کړې
د سهار نه یې رته جوړ سکښې ماښام شو

چې غاټول له پرخو ډک کړ، له نرګس نه
خړو خاورو کې نسکور د غه ډک جام شو

د پسنو تناکو ښکل مې کړ څـــــوارې
چې نظر یې کله لار کې ستا په ګام شو

زماني یې چې د ننګ سندرې ویلې
څنګه سور په خپلو وینو د غه قام شو

www.sikaroom.com

روغ صورت ترپاچاهي شوور ته غوره
چې زما د زړه په خیربې زړه نا رام شو
چې سنا یست او مینه دواړه گناه بولي
د سپیڅلو او سپین زړو دا امام شو
په گلانو به اغزي کوي گواښونه
چې مالي دهریوبڼ څه وخت غلام شو
چې دلبر وړانگې پریوتې پرگلو
شبنم لاړه ترینه هیر وروستی کلام شو
چې جمال او کمال دواړه پکې نغښتي
تور تموتو ته څراغ ځکه اسلام شو
دو مره سنه دی دا رنځور زړه مې پوازې
ربه! تا ته په سجده او په قیام شو
زړه مې نه کېږي چې بیل شمه له تانه
د گور شپې دې اشنا سختې خونا کام شو
څوورو، وروسلگو په خوب ویده کړ
د زړه سواند د ژوند او مینې دا انجام شو

جلال اباد - روغتون

www.sikaraani.com

# ښکلا او مُسکا

خوښې نشته دی زړګیه نوره تاکـــې
چې غمو درباندې جوړې کړې تناکې
تاداوښکو مرغلرې هسې توی کـړې
په دې خړو سپیرو خاورو په ژړا کـــې
ددې نیموشپو غزلو ته رنځورکــړې
داګناه زړګیه ټوله ده په ما کـــې
د ژوندون په دې وروستیوترخو شیبوکې
رانه مه ځه دلته کینه زما خوا کــې
دا زما دسترګو اوښکې ښکاره کیــږي
نن په سترګو د(ښکلا) اود(مسکا) کــې
اوس یې وایم خنکدن کې درته ژونده!
خوند دې نه وه په ژړا اوپه خندا کــې
مخه ښه راسره وکړه خوږه یـــاره
ترینه ځمه زړه مې تنګ شودې دنیا کې
دزخمو زګیروبومې پرینښودې خوب تـه
داسې کیږي د دوه زړونو ملګرتیا کـــې
د زړه سواند د رنځور زړه مینې لیدلــې
چې یې وینې تا په اوښکو کړلې پاکـــې.

ننګرهار- روغتون

یادونه (ښکلا اوموسکا) زما ځلور کلنۍ لور کانې

www.sikaraam.com

# شمال

لکه ګل نه چې ونږمې کله شمال وهي
تخیل مې داسې ستا د زلفو تــــال وهي
چې پیغور یې ښتنو ته یاتې نه شـــــــي
تیره توره د مغل پســـې خوشـــال وهي
ګوندې جوړه به بیا لویه ښتونخوا کړي
هر پښتون ته زما زړه ځولۍ د سوال وهي
دا ټپــي مینه مې څنګه تړې وســاتــم
هرې خواته راپسې د څنوجـــال وهي
دومره یوه یـم یو دې خپل رنځور زړګي مې
تورلحد ته به ارمان ستا د وصـــال وهي
چې پرون یې رانه مخ پرې پـــټولـــو
نن مې قبر ته نو څله هغه شـــال وهي
دایې اسبي د زړه سواند د زړه لــه وینــو
چې اشنا یې په تندي باندې سور خال وهي

www.sikaraam.com

# د ديدن گلونه

نور د ديدن گلونه ورژيـــــــدل

چې د چمن گلونه ورژيـــــــدل

د ځوورو، ورو سلگونه وروسته

په ځنکدن گلونه ورژيـــــــدل

دا ستا د تورو، تورو څڼو څنگــــــه

تول ماخوستن گلونه ورژيـــــــدل

څومره بې وخته اى ترخو وختونو !

زما د تن گلـــونه ورژيـــــــدل

چې اسبودل به بنا پيرو زلفوکي

ددې وطن گلونه ورژيـــــــدل

بوله شيرې به وې زمونږ د کلـــو

که د دښمن گلونه ورژيـــــــدل

زړه سوانده ما خووه تازه پرې ايښې

ستا په کفن گلونه ورژيـــــــدل

www.sikaraam.com

# ساده زړه

په زړه یوه په خولې دې بله اشنا
غولوې مینه زما څله اشنا
دا ساده زړه مې د بڼو په غشو
راته ماښام او سهار وله اشنا
د څنګدن خولې مې راغلې په مخ
ته به تپوس ته راځې کله اشنا
په تورو خاورو کې به پټ شم درنه
چې بیا مې ونه ګورې کله اشنا
ته مې په زړه راوریدلی خدایزو
چې مې لیکله دا غزله اشنا
چې نوم یې وي بخپله نه وي زړه سواند
بیا ور ته رانه شي ته هله اشنا

www.sikaraam.com

بیا یو خواخوږي شتمن
دخپلو شتو نه یوخــه
کړل دخوارانو په نــوم
په دې خـــیرات او ذکات
داسې یو څوك شو راپیښ
چې وه ساحر او ماهـــر
ده به ویله مونږ تـــه
له شتو نه لیرې ګرځـــئ
دغریب حق ونه خورئ
دنیا فاني ده خلکــــو
دغه ساحر اوماهـــر
شو ورننزدې شتمن تـه
پټ یې څه وویل ورته
شتمن خیرات اوذکات
چې وه دخوارو برخه
ورکړله دواړه ده تــه
خواران شول پاتې وزې
ولاړ وو وچې شونډې
وه ګیله من په زړه کــې
له خپلې خوارې برخې
له بې عمل واعظ نــه
هم له خواخوږی شتمن
سبا ته بیا دې کوډګر
مونږته ویلې داسـې
په مکرجنې ژبـــې
دنیا فاني ده خلکــــو
له شتو نه لیرې ګرځـــئ
دغریب حق ونه خورئ

www.dikaraam.com

# ننګ

داغزوارمان پوره شو، ګل دګل په وښو رنګ شو
ددې سرو او تورو وریځو په باران موکلی ړنګ شو
چې رڼا ته ددې شمعې، قاتلان دمینې ناست دي
پدې خپلو سوزیدلو پښیمانه اوس پتنګ شو
دخیبر کاڼو غوږ ایښی دسندرو ماخوستن دی
درخانی وښه ده ناسته دادم د رباب ترنګ شو
چې په تاج دشاهجهان یې مات کچکول چیرې ورنکړ
دا په کومې خوږې مینې دومره مست دغه ملنګ شو
بې منته یکې پریوځم بې منته ترینه پاڅم
خپل شلیدلی کټ مې غوره دپردو له هر پالنګ شو
دڕڼا نه ورته زړه کې چې تیارې دي ډیرې ګرانې
دغه لوی جهان په موږه دهمدوی دلاسه تنګ شو
دومره ښه دي چې احساس مې د سرو له سوداګرو
دغمو په غیز کې بیا دی دخیرونه یې په ځنګ شو
ځینو، ځینو یې بدل کې زموږ ټول چمن تالاکړ
دخپل ځان له پاره ځوک چې پرغلیم مو په غور ځنګ شو
په دې (سوبه) موخپه دي چې موسور ښامار ړنوتې کړ
راته ځکه دا بد نیتې ځوک اورنګ او ځوک پرنګ شو
داپه دروغو بزرګان به خدای ته څه وایي محشر کې
دي شهید، غازي وطن کې د دوی څه باندې داجنګ شو
هر مغل به له هیبته دې هیواد نه شي په تیښته
که یو ځلې چیرته پورته دخوشال د تورې شرنګ شو
خپلې خاورې ته دهغو ستر ګې خړې دي زړه سوانده
ځان پالنې کې ترې هیرچې د پلرو، نیکونو ننګ شو

www.sikardam.com

دعبدالقادرخان ختک دشعر په اقتفا دمشاعرې په لړکې؛

# لټون

چاپه وینو غسل راکړچې مې ځان شو ګلګون هسې
مینې! مینه مې کوله ځکه شومه زبون هسې
لکه ګل اوبلبل دواړه چې خزان سره جلاکړي
زه اوته هم سره بیل کړو، دې پردو اوبیلتون هسې
یکې ژونداو ارمان سوزي، ټول وطن لمبه، لمبه شو
څوبې پتودلته راوړغملړلی بدلون هسې
له دې دښتو تپوس وکړئ چې بیګاه څنکه تورتم کې
په ژړا له کیږدۍ لاړه لیلاهسې مجنون هسې
یکې سبه دې د زور ګیرود ستم بیړۍ شوه ډوبه
له سرو وینو اوله اوښکودلته جوړشوجیحون هسې
د خوږوشاتو په نوم دی دترخوزهروجام راکړ
ستاپه ځیررقیبه! نکړي ا شنائی کې پښتون هسې
دغازي، غازي ماحول هدیروته ځي، ځي ګوري
دسپیڅلوارمانونوقاتلان کړي ژوندون هسې
پرون خواکې دیارناست وم ن یې ق ته ژړا کړم
د وختو اوښتون ګوره چې نن هسې پرون هسې
څه ښایسته تنکي ګلان یې داغزوله پاره لوکړل
ګل دښمنو زموږ زبې کې راته وکړ للون هسې
دترخو، ترخوحالاتوعکاسي ده څپه نه شي
دغمونو په بهیرکې دغزل وي مضمون هسې
ژوبل خیال مې پسې ګرځي لټوي وزمې دزلفو
راپه غاړه شو زړه سوانده دپردیسولټون هسې

www.sikaraam.com

# غورځنګونه

بـــر شوي د پرخو بارانونـــه دي
کوزې پرېمنځلي تور مخونـــه دي
جوړ کړل امیلونه د پارس پېغلـــو
غلوله بدخشان وړي لالونـــه دي
ځي مو له پنجشیر نه زمرود ورتـــه
ښکلي پرې د نورو مالـــتونـــه دي
اچول ټالونه جینکو پکـــــــي
چا په اور سیزلي چنارونـــه دي
پېرته گرځوو قضا لمونځونه پـــــري
مونږ په اوښکو کړي اودسونـــه دي
سره دي د کلیانو انگي چي پـــــري
دا زمونږ د سرو وینو رنګونـــه دي
څنګه شول ټوټې، ټوټې زور گیر پـــکي
دلته خونګونه، غورځنکـــــونه دي
څومره غیرتي مو دي غـــازي وطـــن
ډک له حماسو بي پرهرونـــه دي
سره بلا ورتلله مونږ سنه کړلـــــه
څله پي پېرزو په مونږ مرګـــــونه دي
ارلږ خدایزو په هغه واکمن بد ښکاري
هیرچي د پښتو تري ارمانونـــه دي
ګرځم لټومه د زړه سواند قبـــــــر
ما ورته راوړي څو ګلـــــونه دي

www.sikaraam.com

## د لیکوال نور چاپي آثار

* "لېوني" (د لنډو کیسو مجموعه).
* "سپینه ډوډۍ" ( د ماشومانو له پاره له انګریزي نه د لنډو کیسو ژباړه).
* "ننواتې" ( د غزلو لومړۍ مجموعه).
* "ارمانونه" ( د غزلو دوهمه مجموعه).
* "مرور ماښام" (د غزلو دریمه مجموعه).
* "د ماشوم غږ" د شعر په ژبه (درسي مرستندوی کتاب).
* "د ګلانو سړی" (د ماشونو له پاره له انګریزي نه د لنډو کیسو ژباړه).
* "شعرونه شوګیرونه" (د شعرونو پنځمه مجموعه).
* "تناکې" (د شعرونو همدا مجموعه).

## چاپ ته تیار

* "اوسیلي" (د شعرونو اوومه مجموعه).
* "سپینه کوتره" (د ماشومانو له پاره کیسې).

د چاپ ځای : دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور.

PROPERTY OF ARIC Established 1989
www.csitaraam.com

ARIC
B
3.532
SHI
9276

# د دانش خپرندويې ټولنې، ادبي او تاريخي آث

| | |
|---|---|
| د افغانستان لنډ تاريخ | عبدالحی حبيبی - ژباړه - محمد داود وفا |
| د افغانستان سقوط | عبدالصمد غوث - ژباړه - ډاکټر شېرزمان طايزی |
| احمد شاه بابا افغان | غلام محمد غبار- ژباړه - امين الله دريځ |
| سرې لښکرې په افغانستان کې | ب ګروموف - ژباړن - داود جنبش |
| د خپلواکۍ لمر ځرک | امان الله هوتک |
| د احمد شاه بابا ديوان | ترتيب مومن موحد |
| د الفت مرغلرې | د ګل پاچا الفت شعري کليات د شهرت ننګيال په زيار |
| د الفت نثري کليات | د محمد اسمعيل يون په زيار |
| چنار خبرې کوي | د پير محمد کاروان شعري غونډ |
| له ماښامه تر ماښامه | د پير محمد کاروان شعري غونډ |
| د طاووس بڼکه | د مصطفی سالك شعري غونډ |
| ځانګې ځانګې ارغوان | د نورالحبيب نثار شعري غونډ |
| سپوږمۍ په ځنګل زار کې | پروين فيض زاده ملال |
| د شګې ګل | سيد کمال د ننګرهار ولسي شاعر شعرونه |
| قلم او قيام | د لغمان ولسي شاعر عبدالرحمن علينګاري شعرونه |
| بر ګودر | د ننګرهار ولسي شاعر توکل شعرونه |
| منګولې | د لغمان ولسي شاعر سيد باووجان شعرونه |
| سندريزې کيسې | د لغمان ولسي شاعر شيخ احمد خان شعرونه |
| نمجنې سترګې | د لغمان ولسي شاعر بسم الله ګلکاريوال شعرونه |
| ديګونه او شعرونه | طنز شعرونه - کاتب پاځون |
| دولتي موټر | طنز داستانونه - کاتب پاځون |
| پندونه او خوندونه | واړه طنزونه - کاتب پاځون |
| د بنجاره هتۍ | واړه طنزونه- کاتب پاځون |
| سرې ځنګه ښځه شوه | طنزونه - کاتب پاځون |
| دوه مخي کسان | طنز - ميرزاعلم حميدی |
| ورې ځنګه ليوه شوه | طنز - ميرزا علم حميدي |

دانش خپرندويه ټولنه
+92-91-2564513
www.sikaraam.com